وړومبی ټوک 1

1

مُنکشف چې مطالب پرې کله جانبن شي
عاقلان به ورته ډېر ګوته په غانبن شي

# خوږونه
## په ورغوي



خیام یوسفزے



الْحَمْدُ لله نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَسْتَهْدِيهِ وَنَعُوذُ بِالله مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا مَنْ يَهْدِي الله فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُه ○

يَا أَيُّهَا الْمَلأُ أَفْتُونِي فِي رُؤْيَايَ إِن كُنتُمْ لِلرُّؤْيَا تَعْبُرُونَ

اے سردارانو! ماته زما دَ خوب تعبير راکړئ ، کۀ چرې يئ تاسو تعبير ورکونکي ۔

O chiefs! Explain to me my dream, if it be you can interpret the dream.

سورة يوسف

# خوبونه په وړغوي

ورومبے ټوک

(۱)



پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

خوبونه په ورغوي


ټول حقوق د لیکوال او پښتو ډاټ نیټ ویب پاڼې

په نوم محفوظ دي



- د کتاب نوم ..... خوبونه په ورغوي
- شاعر ........... خیام یوسفزے

مدیر اجرایي د پښتو ویب پاڼې 2007 تا حال

نائب صدر همېشه پښتو ادبي ټولنه 2015-2016



00966-567262472

00966-594250009

Khayaam.yousafzai@outlook.com

Facebook.com/khayaam.yousafzai

@KhayaamYosafzai



- مخ پاڼه ......... رفعت خټک، عمران داود ، ضیاء آرټسټ
- کمپوزر .......... خیام یوسفزے
- پروف ریډنګ .. ګوهر ننګیال او شهاب الدین داود خېل
- د چاپ کال ..... 2016 فروري - جمادي الاول 1437
- د چاپ شمېر... یو زر
- بیعه ............. 250 روپۍ
- خورؤنکي ....... همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره
- چاپځاې .......اعراف پرینټرز محله جنګی پېښور

03125945568 / 091 2580006


خیام یوسفزے

## د موندلو درکونه

- دفتر همېشه پښتو ادبي ټولنه امانده ره ، ملاکنډ 03449613341
- اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور 03125945568
- طاهر بک سنټر شېر خانه پلې ، ملاکنډ
- یونیورسټي بک ایجنسي خېبر بازار پېښور 091-2212534
- پښتو اکېډمي بک شاپ پېښور پوهنتون
- وېلکم بک سنټر پي آر سي مارکټ مردان 03139487881
- ویشن بک شاپ پي آر سي چوک مردان 0937-875101
- انعام بک سېلرز مینګوره سوات 03369201365
- شعیب سنز جي ټي روډ مینګوره سوات 0946-729448
- برېښنايي کتاب پښتو ډاټ نېټ --> www.pukhto.net <--

**چې غوټۍ پسې وهې په لاس به درشـي**
**چا وے دا چې په درياب کښې ګوهر نشته**



پښتو.نېټ PUKHTO.NET

# تړون

دَ
ثمر خیام
نظر خیام
عمر خیام
او
خضر خیام
پهٔ سپیځلو نامو چې زما
دَ خوبونو حقیقي او ژوندي
تعبیرونه دي -

خیام یوسفزے



پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

د وږومبي تړوک دا

# سوغات

دَ ګران بابا ګران شاګرد

**طیّب خان صیب**

ته چې پهٔ دا ګرانه ګرانۍ کښې
راته ګران دے

خیام یوسفزے



پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

# لړلیک


* د اوسپنې نینې ...... 09
* هر فنِ مولا ...... 21
* خوبونه پهٔ ورغوي ...... 25
* دُعا او رجا ...... 29
* مقدمه ...... 31
* حقّانیت دَ خوبونو ...... 36


## (بابُ الالف)

د تورو د اوړنې پهٔ اعتبار


* آب ( اوبهٔ ) ...... 42
* آدم علیه السلام ...... 46
* آیات ...... 48
* ابابیل ( توتکرکې ) ...... 51
* ابَر ( وریځې ) ...... 53
* ابراهیم علیه السلام ...... 55
* ابرو ...... 58
* ابلیس ...... 59
* اتفاق ...... 61
* اچار ...... 62
* احمد ﷺ ...... 64
* ادریس علیه السلام ...... 66
* اوړکې ( اوړقې ) ...... 67
* اذان ( بانګ ) ...... 69
* اراړه ( لُکنت ) ...... 72
* ارَټ ...... 74
* اره ...... 80
* اژدها ...... 81
* اسپ ...... 82
* اسپغول ( سَت ) ...... 85
* استاد ...... 87
* استغفار ( توبه ) ...... 89
* اسرافیل علیه السلام ...... 90
* اسلحه ( وسله ) ...... 91
* اسماعیل علیه السلام ...... 93
* اسهال ...... 95
* اشجار ( وُنې ) ...... 96
* اشعار ...... 105
* اصحاب الرسول ﷺ ...... 107
* اعتکاف ...... 111
* اعداد ( ارقام ) ...... 113
* اعُوذُ بِالله ...... 120
* اغلام ...... 122
* افتاب ( نمر ) ...... 124
* افسون ...... 125




پښتو.نېټ PUKHTO.NET

# لړلیک


* افیم ........................ 128
* اګی (ها) ..................... 129
* الله جل جلاله ................. 131
* الوت او آسمان ............ 137
* الوداع ...................... 142
* امامت ...................... 145
* امرود ...................... 148
* انار ........................ 149
* اُنثیان ...................... 152
* انجیل ...................... 154
* انځر ........................ 155
* اندامونه .................... 156
* انغرے ...................... 157
* انګبین ...................... 158
* انګُشتري (ګوتمه) ......... 160
* انګور (کوَر) ........... 163
* انګیتی ...................... 165
* اناس ...................... 166
* اهرام دَ مصر .............. 168
* اهو (غزال) .............. 173
* اوازونه ..................... 174
* اور (نار) ................... 181
* اوړه یا هوړه .............. 185
* اوړه ........................ 188
* اوسپنه (حدید) ........... 190
* اوښ ........................ 192
* اوښکې (اشک) ......... 195
* اولتی ....................... 197
* ایّوب علیه السلام .......... 200
* ائینه (هنداره) ........... 201
* مننه ........................ 203
* سرچینې .................... 204

# د اوسپنې ټینګې

پُښتو ژبې ډېر لږ ارتقائي پړاوونه سر کړي دي ، او د بره تګ د منازلو ډېر چېلنجونه ئې لا مخې ته دي ، چې د بري په نتیجه کښې به ئې دا ژبه مخ په وړاندې ځي او په عالمي کچ به د ژبو په سیالۍ کښې ځان له ځائې ګټي خو د دغې چېلنجونو مقابله په تشه کاتۍ ناشونې ده ځکه چې د دې کار د پاره په هر هېواد کښې په دولتي سطح اداري جوړې کړې شوې دي او هغه په منظم ډول دغه وظیفه تر سره کوي،خو په دغه حواله پښتو او پُښتانهٔ دواړه بد مرغه دي، چې نهٔ خو پُښتانهٔ مِن حیثُ الْقوم دغه شعور لري او نهٔ په دولتي سطح د پُښتو روزنې د پاره څهٔ کوټلي اقدامات کولې شي، چې دغه مقاصد ترې تر لاسه شي، بیا هم پُښتو چې د ژبنې ترقۍ په زغل کښې کومه لار وهلې ده، دغه زیاتره د پُښتنو لیکوالو د انفرادي او ذاتي یا غیر سرکاري زیار ثمره ده -

پُښتو ته د نورو ډېرو چېلنجونو نه علاوه یو ستر چېلنج د دې ژبې علمي کول دي او دا د علم ژبه ګرځول دي او کله چې پُښتو د علم ژبه وګرځیده نو هله به دې ته د لساني او ادبیاتي ودې لارې خلاصې شي، په دغه سلسله کښې یو مُهم اقدام د نورو ژبو علمي کتابونه پُښتو ته راړول دي ، د څهٔ په اساس چې به د دغه ژبو علوم پُښتو ته منتقل شي او دا شان به په علمي لحاظ زمونږ د ژبې او ادبیاتو پنګه درنه شي -

دا موجوده کتاب "خوبونه په ورغوي" هم د دغې زیار یوه ګټوره هڅه ده، چې زما خواخوږي شاګرد خیام یوسفزي هم په دغه

بنیاد پهٔ شعوري طور کړې ده ،چې پښتو ته يې د عربي ژبې د څو مُستندو کتابونـو علم پخپل انداز کښې را اړولے د ے ـ دغه علم د تعبير علم دے، چې د خوبونو سره متعلقه دے ـ خوبونه د انساني ژوند یوه داسې برخه ده ، چې څوک ورته د ضرورت نه زيات اهميت ورکوي ، څوک ئې لږ اهم ګڼي ، ولې ځنې نور خلق ئې هډو د اهميت وړ نهٔ ګڼي ، خو د ارشاد نبويؐ تر مخه چې د نبوت او وحي سلسله ختمه شوې ده ،نو اوس د مومنانو د پاره ريښتوني خوبونه ايکې يـــوه وسيله ده ، چې الله تعالیٰ پرې مومنانو ته بشارتونه او زيري ورکوي، او دا شان هغوي د راتلونکو حالاتـو نه خبروي ، ځکه نو د مسلمانانو د پاره خوبونه د ډېر اهميت او ارزښت جوګه دي ـ

د يوې څېړنې تر مخه هر انســـان دخپل ژوند شپږمه بــــرخه د خوبونو پهٔ ليدو کښې تېروي، او کوم کسان چې دا د وخت ضياع سره تعبيروي نو هغوئ پهٔ غلطه دي، پهٔ دې چې خوب د انساني صحت او روغمنې علامت دے ـ د دې برعکس خوب نهٔ کول او خوب نهٔ ليدل د لېونتوب او جنون نخښه ده ـ

پهٔ مذهبي لحاظ کهٔ يو اړخ ته خوب د مازغو يـو طبعي فعل دےـ چې فکري او تخيلي قواء ته دمه ورکـوي ، نو بل اړخ ته خوب ليدل د راتلونکو واقعاتو او پېښو پېش ګوئي هم ګڼلې شي ، چې د خوب ليدونکي د پاره پکښې د دغه حالاتو سره د مخ کېـدلو د بېدارۍ او چمتو کېدو د پاره جوتې يا مُبهمې اشارې موجود وي ـ پوهان خوبونه پهٔ دوو لويو برخو کښې تقسيموي ، يـو طبعي خوبونه او دويم غير طبعي خوبونه، طبعي خوبونه پوهان د انسان

د پاره ډېر ضروري ګڼي ، ځکه چې هم د دې خوبونو په اساس د انسان په داخلي ګرمۍ کښې توازن برقرار وي،او د دې په وجه دغه داخلي تودوخه قابو وي۔ دغه شان د غیر طبعي خوبونو درې اقسام بیانوي ، یو قسم خوبونه د انسان په مزاج کښې د اړې ګړې نتیجه وي۔ چې د هغه چرُت سم نۀ وي، یا د تناؤ ښکار وي نو ګډ وډ خوبونه ویني ۔ دوېم ډول خوبونه په وینه کښې د صفرا او سودا د زیاتوالي لۀ کبله لیدل کېږي ، مطلب کله چې په انسـاني وینه کښې دغه غیر متوازن کیفیت راپېدا شي ، نو بیا د انواع انواع خوبونه ویني ۔ درېم قسم هاغه خوبونه دي چې د بسیار خوراکۍ یا ناوړې او ګندا خوراکونو په سبب بنده ته راځي۔

د خوب په حواله یو بل پوهان خپل خیال داسې څرګندوي ، چې کله حېواني روح د ظاهري حواس نه بیل شي ، او باطني حواسو سره یو ځائې شي، نو نفس د مشاغل حسیه نه فراغت بیامومي، او هاغه کیفیاتو ته پاملرنه ؤکړي ، کوم چې په حافظه کښې خوندي وي داسې د دغه کېفیاتو نه خیالي نقشونه او صورتونه را دوڅار شي ، د څۀ ادراک چې حِس مشترک په ظاهري حواسو سره کوي، ولې ځنې وخت دغه ادراک نفس هم کوي، او هغه داسې چې کله نفس د باطني قوتونو سره مُتصادم شي نو په نتېجه کښې ئې نفس روحانیّت ته مُتوجه شي ، او بیا د دغه روحانیّت په طاقت سره د دغه خیالي نقشونو او صورتونو ادراک وکړي ،کوم چې په حافظه یا لاشعور کښې پراتۀ وي۔

د حضرت دانیال علیه السلام په نزد چې په کوم بنیادم صفرا غالبه شي نو هغه به اور، شمع، قندیل او ګرمي په خوب کښې ویني دغه



پښتو.نېټ
PUKHTO.NET

شان په چا چې بلغمي اثرات زيات شي نو دهغه په خوبونو کښې به واورې او بارانونه رادوښاريږي او که په چا سودا غالبه شي،نو د هغهٔ خوبونه به د ويرې نه ډک شي ، ماران ، لړمان ، تيارې او تورتمونه ئې په خوبونو کښې راځي، په دا ډول خوبونو کښې د نفس اماره او اخلاق خبيثه هم لوې لاس وي -

د ارشادات نبويﷺ تر مخه هم د خوبونو درې ډولونه دي ، يو ډول خوبونه رحماني وي ، دا رنګ خوبونه د هغه چا په نصيب کيږي چې د نفس مطمنه په دولت مالا مال وي، چې ايماندارو ته پکښې د الله د لورې د خوشحالۍ او کاميابۍ زيرې ورکولې شي ، دويم ډول شيطاني خوبونه وي ،کومو کښې چې شيطان د ايماندارو په خوبونو کښې راځي او هغوي د پريشانۍ په وسوسو کښې اچوي- دغه رنګ دريم ډول خوبونه د اضغاث او احلام دي چې انسان ته په خوب کښې رادوښاريږي او دا شان د هغه په ارام کښې پريشانه کوونکي خيالات او تصورات د خلل سوب جوړيږي ، اضغاث په لغت کښې خوارهٔ وارهٔ او پريشانه واښو ته وائي ، د دغسې خوبونو په حقله د ماهرينو خيال دے چې کله نفس او باطني قوتونه د يو بل سره مُتصادم شي او نفس د دغه تصادم په اوان د حواسو نه ځان ازاد کړي نو بيا نفس په لاشعور کښې موجود خيالي صورتونو او نقشونو کښې لاس وهنه شروع کړي او د دغې لاس وهنې او تحليل په نتيجه کښې اضغاث او احلام رابرسيره شي، هم دا ګډ وډ خوبونه وي ، چې په بيدارۍ کښې هم د انسان په ذهن ناوړه اغيزه ثبت کوي -

د حضرت جعفر صادقؓ په قول اضغاث احلام څلور قسمه خلق

ويني -يو هغه کس چې طبعيت ئې فساد ته مائل وي ، دوېم چې شراب خور وي، درېم چې سودا پېدا کوونکي خوراکونه خوري او ځلورم نابالغه کسان ، دا رنګې خوبونه ويني -
لکه څنګه چې د احاديثو نه د خوبونو دغه درې اقسام ثابت دي ، دغسې صوفيان او دروېشان هم خوبونه د حديث نفس اضغاث احلام او رويا صالحه ، په درې قسمونو ويشي او سالکينو ته د هغوي د مزاج او طبعې په مناسبت سره خوبونه راځي ، کوم سالکان چې د لطيفې او سپېځلې طبعې خاوندان وي،هغوي عموماً زيات خوبونه ويني ، چې د حديث نفس او رويّا صالحه نه عبارت وي ، د حديث تر مخه رويّا صالحه د نبوت شپږ څلوېښتمه برخه ګڼلې شي ، دغه رنګ د کثيفُ الطبع سالکانو په حواله وئيلې شي چې دوي ډېر کم او خال خال خوبونه ويني -
د جديد علومو ماهرانو هم وخت په وخت د خوبونو په اړه خپل خيالات او نظريات وړاندې کړي دي ، په دې حقله د لوې ماهر نفسيات فرائډ نامه د ټولو په سر کښې راځي، د هغه د وينا تر مخه خوب يو ذهني پېداوار دے ، او په دې کښې هېڅ قسمه مافوقُ الفطرت اشاره نۀ وي، ځکه نو هر بنيادم د خپل خوب وضاحت او تشريح کولے شي،همدارنګې خوبونه د انساني خواهشاتو د تسکين يوه ځانګړې هڅه ده ، چې يو جدا رنګ لري - د فرائډ خيال دے چې خوب کښې د اوده کېدلو او سکون تحفظ دے، کۀ چرې دا عمل نۀ وي نو بيا به بنيادم لۀ ارام نۀ ورتلو او نۀ به اودۀ کېدے شو ، وړاندې ليکي چې خوب يو داسې عمل دے چې دا په اصلي خواهشاتو او وارداتو د علامتونو پرده اچوي ، هم په دې وجه د

13

د اودهٔ کېدو پهٔ عمل کښې خلل نهٔ راځي ، دے زياتوي چې د خوب دوه اړخه دي ، يو پټ او دوېم جوت ـ د خوب پټ اړخ د جوت اړخ نه زيات ارزښتناک دے ، دې نه علاوه خوب زمونږ د ناپوره خواهشاتو د دمې ذريعه ده چې عموماً د جنسي نوعيّت وي ـ د ده پهٔ خيال خوب د ماضي د وارداتو نه شکل اخلي او دې کښې د مستقبل د پاره هېڅ نهٔ وي ـ د فرائډ برعکس لوې پوهان ژونګ د خوب د مستقبل پهٔ حقله د پېش ګوئی قائل دے او وائي چې په خوب کښې د راتلونکوواقعاتو پهٔ لړ کښې اشارې بيا موندے شي ـ فرائډ وائي چې خوبونه د هاغه پابندو نوم دے ، کومې پابندی چې پهٔ لاشعور کښې مېشته خواهشاتو باندې لګېدلې وي پهٔ دغه هڅه کښې د هاغه پابنديو او قدغنونو د ماتولو زيار کښېباسلے شي،کوم چې پهٔ لاشعور کښې مېشته خواهشاتو باندې وخت او حالاتو لګولي وي ـ دغه اهداف اکثر تر لاسه کېږي ولې کله کله د دغې پابندو د ماتولو پهٔ عمل کښې پهٔ بنيادم دومره ويره سوره شي ، چې هغه لهٔ خوبه راويښ شي ـ

څنې پوهان لکه هال ، فروم ، فوکس او فرنچ دا خيال څرګندوي چې خوب محض د تنده غرو خواهشاتو د تکميل او بشپړتيا مسئله نهٔ ده ، بلکې دې کښې د انسان جذبات ، انديښنې ، ورچنېز محرکات ، تناؤ ، جنسيات ، مشاهدات او تجربات هم مهم رول لوبوي ـ

هابسن او ميک کارلے چې د انساني غړو د افعالو ستر ماهران دي هغوئ پهٔ دغه زاويه د خوب پهٔ حواله خپل نظر وړاندې کړے دے ، د دوئ خيال دے چې خوب هغه وخت بنده ويني کله چې

د دماغو د دوه حصو Pons او Cerebellem،نسونه(Neurons) ناڅاپي په حرکت کښې راشي ، ولې ځنې نور ماهرين رائې لري چې دا ناساپي حرکت به اګرچې د خوب په ليدو کښې څۀ نا څۀ لاس ضرور لري ، ولې پۀ مجموعي توګه دا منل سم نۀ دي ځکه چې مونږ د خوب ليدونکي بنيادم شعور ، تحتَ ا لشعور ، لاشعور ، حافظه ، د امروزه ژوند لانجې او بوختې يکسر رد کولے نۀ شو ۔

شکسپير خوبـونه د ژوند پۀ دعوت کښې څاربه خوراکونه ګڼي ، برټنډرسل د وينبې خوبونه د عقائدو سره تعبيروي او د شپې خوبونو ته د خواهشاتو د تکميل انځورګري وائي ۔ نامتو انګريزي شاعر Beatles کۀ خپله مشهوره سندره Yesterday پۀ خوب کښې ليکي نو Coleridge هم خپل مقبول نظم Kubla Khan پۀ خوب کښې تخليق کوي ولې څوک ئې راوينبوي او دا شان دغه شهکار ادب پاره د نيمګړتيا غيږې ته ځي ۔

پۀ هرحال خوبونه پخپل ځان کښې ارومرو څۀ نا څۀ حقيقت لري او د هرې ژبې هر مذهب، رنګ او نسل وګړي خوبونه ويني ، د قران عظيم الشان نه هم خوبونه ثابت دي او پۀ دا ډول د حضرت يوسف ع نامه د وړومبي مُعّبر پۀ حيث مخې ته راځي په اسلامي نړۍ کښې د خوبونو د تعبير پۀ حواله د ګڼو شخصياتو نامې منلې شوي دي ، چې پکښې د حضرت دانيال ع ،امام جعفر صادق رض ،امام محمد بن سرين رح ، امام جابرمغربي رح ،امام ابراهيم کرماني رح او امام اسماعيل بن اشعث رح ، او داسې نور ډېر نومونه شامل دي ۔

تعبير پخپله يو ډېر فراخه او ژوَر علم دے ، ځکه چې د دې علم د

پاره پوهان د نورو څو علومو زده کړه او لاس برے ضروري ګرځوي ـ پهٔ دغه علومو کښې علم تفسير ، علم حديث ، علم ضربُ الامثال ، د عربي اشعارو پوهه ، نوادر (عجائبات) ، علم اشتقا ، د لُغت علم ، علم الفاظ متداوله، علم جفر، علم رمل او د ابجد علم شامل دي ـ

خو د دې علومو نه علاوه علم تعبير د مُعبّر نه د باطني بصيرت غوښتنه هم کوي،ځکه چې کهٔ د ځنو خوبونو تعبير هوبهو رابرسېره کېږي ، نو ځنې الټا رادوڅارېږي، بعضې خوبونه پهٔ تمثيل اړه لري نو بعضې د خوب ليدونکي پهٔ حال او عمل انحصار لري ، دغه رنګ د ځنو نورو خوبونو تعبيرونه د موسمونو پهٔ بنياد اړانه وي ، خوب يو وي خو چې پهٔ مختلفو موسمونو کښې ؤليدے شي نو تعبيرونه ئې مختلف وي ـ لهٔ دې امله د خوب تعبير ويستل بې کچه دقيق کار دے او دا ګُنجلک لونګين هغه څوک پرانستے شي چې د ذکر شوو علومو پهٔ رڼا ئې د زړهٔ سترګې بينا او باطن مُنور وي ،حضرت جابر مغربيؒ د شپې د خوب نه د ورځې خوب قوّي ګڼي هغه فرمائي چې د شپې د وړومبې برخې د خوب تعبير نهٔ ريشتيا کيږي، د نيمې شپې خوب پريشانه کوونکے وي او د ټولو نه ريښتونے خوب د سبا د وخت خوب دے، چې مقربه فرشته ئې خلقو ته د لوح محفوظ نه ښائي ـ حالانکې پښتنو کښې په عمومي ډول دے خيال وده بيامونديې ده چې د نيمې شپې خوب ريښتونے وي او د سحر خوب شيطاني خوب وي ـ

حضرت کرمانيؒ وائي چې د سپرلي پهٔ موسم ليدونکے خوب نيک دے، تعبير به ئې څهٔ موده پس ښکاره کېږي او ريښتونے به وي، د



پښتو.نيټ PUKHTO.NET

خزان د خوب تعبير باطل دے او د ګرمئ د موسم د خوب تعبير به ډېر زر مخې ته راځي ـ يو بل پوهان اؤ عالم خيال لري، چې د شپې پهٔ اوله حصه کښې د ليدلي خوب تعبير تقريباً پنځه کاله اخلي ، د نيمې شپې د خوب تعبير پهٔ پنځه مياشتو کښې رامخ ته کېږي ، د شپې د آخري پار د خوب تعبير د لس ورځو پورې رابرسېره کېږي او څومره څومره چې خوب ليدنه ورځ ته رانېزدې کېږي نو دومره دومره ئې د تعبير وخت هم رالنډېږي ـ

د حضرت دانيال عليه السلام پهٔ قول د اتوار د ورځې خوب نيک وي ، د دې خوب تعلق د نمر سره وي ، د ګل د ورځې خوب هم ښهٔ وي ، دا خوب د سپوږمئ سره اړه لري ـ د نهې او شورو د ورځو د خوبونو تعلق پرله پسې د مريخ او عطارد سره وي ـ دغه خوبونه نه وي ښهٔ، ځکه نو تعبيرونه ئې هم نهٔ دي پوښتل پکار ، دا شان د زيارت د ورځې د خوب اړيکه د مُشتري سره ده ، دا خوب د نيکئ علامت وي - د جمعې د ورځې خوب د زهره سره متعلقه دے، چې تعبير ئې د سوکالئ، خوشحالئ او تازګئ دے ـ

د حضرت جعفر د وينا مطابق د خوب تعبير د بې دينو،د ښځو، د ناپوهه اؤ دښمنانو نه نهٔ دي پوښتل پکار،ځکه چې دوئي به تاسو ته چرته هم درست تعبير در نهٔ کړے شي- د خوبونو د تعبير پهٔ ترڅ کښې وړومبے کتاب" کاملُ التعبير " يادولے شي ، کوم چې لوې عالم او پوهان حسين بن ابراهيم محمد تقليسیؒ ليکلے دے ـ د دې کتاب اصل هاغه يوويشت مُستند کتابونه دي،کوم چې د تعبير پهٔ حواله ليکلي شوي دي ،دا کتاب هم د دغه يويشت کتابونو نچوړ دے ـکاملُ التعبير د ۵۵۵ھ خواوشاه ليکلے شوے دے، چې د نن

نه تقریباً اتهٔ نیم سوه کاله پخوا زمانه جوړېږي ـ
زما پهٔ لاسو کښې دا کتاب "خوبونه پهٔ ورغوي"هم د علم تعبیر سره مُتعلقه دے ـ د دې کتاب پهٔ پُښتو ادب کښې د ټولو نه لوئې انفرادیت او ځانګړتیا دا ده ، چې دا منظوم تعبیرونه دي او زما پهٔ خیال چې په پُښتو کښې د دې کتاب نه وړاندې بل چا منظوم تعبیرونه پهٔ کتابي شکل کښې نهٔ دي خپاره کړي ـ دا به پهٔ دې لړ کښې وړومبے کتاب وي ـ
بله دا چې دې کتاب کښې صرف د"الف"د توري تعبیرونه راغونډ کړې شوي دي ـ دې نه پس به هم خیام یوسفزے دې سلسلې ته دوام بخښي او تر"ي"پورې به ئې غزوي ـ څهٔ که هم دا لُوې کار عمرونه غواړي خو چې د خیام یوسفزي پهٔ څېر د ملاکنډ او ایلم پهٔ شان هسکه او کلکه حوصله لري نو دا ګرانې سرکول هغهٔ ته د ګس لاس د کار نه هم اسانې دي ـ پهٔ دې چې زهٔ د هغه د کار او زیار نه پوره مطمین یم ، او دا زهٔ د پُښتو ژبې او ادب نیکمرغي ګڼم ، چې د جدید علومو پهٔ کالو ښائېسته دا زلمے چې پښتو ئې درساً نهٔ ده لوستې ، او ټول عمر ئې سمندر پورې تېر کړے دے ولې د خپلې ژبې، ادب، تهذیب او کلتور سره ئې رشته نهٔ ده پرې کړي ، بلکې ښهٔ پهٔ نره ئې دغه رشته پاللي ده ـ
د دې کتاب یو جوت اهمیّت دا هم دے ، چې خیام یوسفزي د ډېرو ګنجلکو خوبونو، وراني ماشوړې پرانستې دي او عام وګړي ته ئې پهٔ حقیقت کښې "خوبونه پهٔ ورغوي"کښې ایښي دي ـاو دا رنګ ئې تعبیرونه آسان کړي هم دي او د پوهې وړ ګرځولي هم دي ولې ځنې ځایونه ئې دقیق ضرور دي ـ چې زما د مشورې باوجود

هم خیام یوسفزي هغه هم هغسې وساتل ـ

تر کومې چې د دې کتاب شعري او اسلوباتي اړیکې دي، نو په دغه لړ کښې خیام لکه د خپلې نورې شاعرۍ په دې اثر کښې هم د کلاسکي شاعرانو لمن راټینګه کړې ده ـ د عربي ادب د مطالعې اغیزه پرې جوته لیدے شي ،او په شعوري طور غواړي چې د شعر پیکر ته د مشکل پسندۍ رخت و زیور ور واغوندي ـ څهٔ کهٔ هم ما ورته بیا بیا د سادګۍ خبره کړې ده ، ولې خیام خو خپل سُر تال ،سُور سار او خُمار لري ـ ځکه نو چې څهٔ لیکي د خپل چرت مطابق ئې لیکي ـ



دا کتاب به پهٔ فني اؤ هنري حوالو څهٔ نا څهٔ خامۍ اؤ کمۍ ضرور لري ، ځکه چې د نورو ژبو نه ترجمه کول هسې هم ګران کار دے ولې بیا چې دغه ترجمه د نثر نه پهٔ نظم کښې شي ، نو لا ډېره بلا ګرانه شي ، ولې خیام یوسفزے د داد او ډاډ وړ دے ، چې د مسافرۍ د بې کچه بوختو او د مزدورۍ خوارۍ د مشکلاتو باوجود ئې د خپل زغم پهٔ غاښو د اوسپنو دا فولادي نینې ډېر په خوند خوند چیچلې دي ـ

زما پهٔ نزد"خوبونه پهٔ ورغوي"یوه لویه علمي کارنامه ده ، چې د پُښتو او پُښتنو دواړو د پاره یو شان ارزښت او اهمیت لري ـ زهٔ باور لرم چې خیام یوسفزے به د خپل زیار د نیلي تانګونه هم دغسې هر وخت کلک تړلي ساتي ، چې نهٔ یوازې د"تعبیرُ الرویا"

دا ویړ مېدان پرې سر کړي ،بلکې د دې سره سره نور علمي کتابونه هم د پښتو جولۍ ته را واړوي چې د دې ژبې د علمي تنده غرو د تندې د سړخ سوب وګرځي ـ

**ډاکټر علي خېل درياب**
چیئرمېن پښتو څانګه
ملاکنډ پوهنتون

۹ جنوري ۲۰۱٦



پښتو.نېټ
PUKHTO.NET

# هر فنِ مولا

د اختصاص پهٔ دې دور کښې چرته چې يو انسان په يو مخصوص مېدان کښې مهارت خو لري ولې پهٔ نورو علومو کښې چټ جاهل وي ، دا ستونزه هغه وخت رامينځ ته شوه چې تعليم تجارت ؤګرځېدو ، اوس درته يوه جامعه پهٔ هر مېدان کښې ماهرين پېدا کولے شي ، خو مجموعي علومو کښې بيا دغه ماهرين په صفر حساب وي ، پخوا به يو تعليم يافته انسان پهٔ ټولو علومو کښې طاق وو ، او که داسې چرته ټولنې ته به ستونزه رامخې ته شوه نو دغه د ټول کلي قريې عالم به د خپل چاپېرچل نمائندګي پهٔ څهٔ نا څهٔ ډول کولے شوه او هم دغه کس به د ټول کلي سيانا وو -



دغه خبره مې د ګران ملګري ښاغلي خيام يوسفزي صېب پهٔ دې کتاب "خوبونه پهٔ ورغوي" پهٔ سر کښې ځکه وليکله چې د دې کتاب ليکونکې راته د پخواني عالمانو پهٔ شان هر فنِ مولا وبرېښېدو او د هغو پخواني عالمانو مينه مې پرې ماته شوه -

د کمپيوټر مُتخصّص ،د قرآن شريف حا فظ، د عربي ژبې ماهر، پهٔ ديني علومو خبر ، د موسيقۍ استاذ او د نازولي پښتو ژبې منلے شوي شاعر او اديب ښاغلے خيام يوسفزے صېب د خوږې شاعرۍ د سحره لا آ زاد نهٔ وو چې د خوبونو په تعبيرونو کښې ئې هم د خپل مهارت سنګ مېل ؤدرولو -

خيام يوسفزے

لږه موده وړاندې ملګري شاعر د خپلې خوږې شاعرۍ کتاب "جام جنون او جانان" پهٔ نوم چاپ کړے دے چې په پښتو ادب کښې ئې لوړ مقام موندلے دے او بلکل کلاسیکیّت ته نزدې شاعري ئې کړې ده -

د ښاغلي شاعر د ژوند د رنګینو لمحو شاعري ما پوره نهٔ ده لوستلي خو چې لږه ډېره مې د سوشل میډیا پهٔ توسط لوستې ده، د هغې د تاثیر لاندې راغلے یم ، حېران پهٔ دې شوم چې پهٔ دومره وړوکې عمر کښې دومره پخه شاعري د دې شاعر د نابغه ګرځېدلو د پاره کافي ده او کومه خبره چې په سر کښې ما کړې ده چې داسې شاعر بیا د تمامي علومو پهٔ ځائې عالم منل پکار دي - ما یو ځل خیام یوسفزي صېب ته مشوره ورکړې وه چې ملګري د شعر لیکلو انداز دې ځان له پیچیده او سخت رانیولے او خوښ کړے دے او پهٔ مستقبل کښې به درته مشکلات وي خو خیام لکه څنګه چې مشکل پسند وو او د کلاسیکي شاعرۍ د تاثیر لاندې وو بل د طبیعت لهٔ خاطره پرفیکشنسټ هم وو نو کومه لاره ئې چې غوره کړې وه هم پهٔ هغې ئې مزل جاري ؤساتلو او تر خپلو اهدافو تقریباً د رسېدلو هڅه ئې کامیابه ده ، د شعر و ادب په دې ویړ مېدان کښې ئې خپل انداز او اسلوب خپل کړو او پهٔ دغه کوشش کښې بریالے شوے دے-

د ښاغلي خیام صېب دا کتاب " خوبونه پهٔ ورغوي" د یو ځانګړي علم سپړده ده چې د قرآني آیاتو او احادیثو پهٔ رڼا کښې د مختلفو ائمهٔ کرام ،ا ولیاء کرام ، د فِقې او اسلامي علومو د استاذانو د

کتابونو نه ئې استفاده کړې ده او هم پهٔ نظم کښې ئې د دې تعبیرونه په ښکلو تورو ټکو کښې په خپل ځانګړي اسلوب کښې روښانه کړي دي۔

د تعبیر د پاره زده کړه د تفسیر ده
احادیث د پاک نبی پکښې اکثیر ده



پهٔ دې شاعرانه او منظوم تعبیرونو کښې ئې د کلاسیکیّت رنګ برقرار ساتلے دے ۔په هر کلام کښې ئې ځان له هَم قافیه شعرونه لیکلي دي او د خوب تسلسُل او تفصیل ئې جارې ساتلے دے ۔الفاظ ئې موزون ، تراکیب ئې مظبوط ، په استعارو او تشبیهاتو ښَلي ، پهٔ ښائېسته مصرو کښې بیان کړي دي۔ داسې کتاب د شاعر لیکوال د پاره لوستل ضروري وي چې اکثر ملګري پهٔ عالم رویّا یا پهٔ بېخودګۍ کښې شعر لیکي چې دوئ ورته د الهام نوم ورکوي ، بیا نو داسې خوابیده الهامونه ځان لهٔ روښانه کولے شي ډېر وړاندې مې یو کتاب چرته لهٔ نظره تېر شوے وو ، چې غالباً "رشیدُ البیان" نوم ئې وو خو د هغه مضامین د فِقې احکاماتو ښوونه وه او شاعري ئې عامیانه وه۔

"خوبونه پهٔ ورغوي" د خپل نفس مضمون لهٔ خاطره جدا دي چې دا چورلټ د خوبونو تعبیرونه دي ، او پهٔ ډېره ښکلې شاعرۍ کښې روښانه شوي دي ۔د دې کتاب لیکنه د هر خوب تعبیر د پاره د مختلفو اقوالو یا د لرغوني عالمانو حوالې ورکول لویه مطالعه غواړي۔

خیام یوسفزے

پښتو.نیټ PUKHTO.NET

سر بېره د دې خپل روزګار سره ، د پُښتو ژبې پالنې روزنې له وخت ورکول، او د خپلې ژبې او خلقو د پاره پهٔ دومره مينه شوق سره کار کول يقيناً چې د ستر انسان نښې دي او خيام واقعي چې نهٔ يوازې ستر انسان دے بلکه ستر عالم فاضل دے -

هيله کوم چې د پُښتو جولۍ ته به د داسې ستر انسان ليکنې د شتمنۍ باعث وګرځي -

**فېروز آفريدي**

پېښور

٦ جنوري ٢٠١٦





پښتو.نيټ PUKHTO.NET

# خوبونه په ورغوي

ډېرې ورځې کېږي چې ښاغلے ډاکټر علي خېل درياب او د ښاغلي خيام يوسفزي ورور ماسره ليدو کتو ته زما کور ته راغلي وو ، چې هر کله رخصتېدل نو د خيام يوسفزي د کتاب مُسّوده "خوبونه په ورغوي " ئې ماته راکړه ، چې ښهٔ په غور يې اولولم او بيا يو څو کرښې پرې اوليکم ، خو زهٔ د ځينې ذاتي مصروفياتو په سبب د توقع خلاف د کتاب مطالعې ته اوزګار نهٔ شوم او هر کله چې مې لږ فرصت اوموندو نو مُسّوده مې راواخيسته او په خوند خوند مې لوستل شروع کړل ، کهٔ ريښتيا وايم نو دغه موضوع نوې هم ده او دلچسپه هم ده۔

د خوبونو د تعبيرونو تاريخ ډېر اوږد دے ۔ يوسف عليه السلام ته چې پروردګار د خوبونو د تعبيرونو کومه معجزه ورکړې وه ، په هغې د قران پاک آياتونه ګواه دي ، د مصر په بندي خانه کښې چې شاهي باورچي او نان بائي کوم خوبونه ليدلي وو يا چې عزيزِ مصر کوم خوب ليدلے ؤ ، نو د دغې خوبونو تعبيرونه هغو ته يوسف عليه السلام بيان کړل ، هغه تعبيرونه سل په سله ريښتيا اوختل۔ الله پاک ځينې اولياء او د خدائې په ياد کښې همه تن مصروفو خلکو ته هم الهامي قوّت ورکړي وي يا ئې ورکوي ، دا څهٔ نوې خبره نهٔ ده -

خوبونه عام خلک همويني ، ځينې خوبونه پکښې ګډ وډ هم وي او تعبير ئې بسيار خوري او بد هضمي وي ، عبد الرحمان بابا څومره ښکلې وېنا کوي :



پښتو.نیټ PUKHTO.NET

کم خوراک سړے نزدې شي فـرښتو ته
هر سړے چې بسيار خور شي بسيار خوار شي

ځينې خلک په تورو تورو شپو کښې هم رنګين خوبونه ويني چې تعبير ئې د عشق رګ په جُنبش کښې د راتلو وي لکه چې يو شاعر وايي :

بيا دې په زلفـــانو کښې اشنا ګلونه وينمه
تورو تورو شپو کښې څهٔ رنګين خوبونه وينمه

د خوبونو د تعبيرونو نه علاوه چې بزرګې هستۍ د خپلو کراماتو په برکت کوم پېش ګوياني (Fore Telling) اوکړي ، د هغو تعبير سل په سله رښتيا خېژي ، لکه شيخ رحمکار زيړي کاکا صيب چې په ۲٤ رجب المرجب ۱۰٦٤ هجري د جمعې په ورځ د خپل يو کلک مريد خوشحال خان خټک په باب چې کومه پېش ګوئي اوکړه چې په ده به ډېر تکليفونه راشي خو رب ذوالجلال به يې په خپل فضل پرې اسان کړي ، عېن لس کاله (۱۰۷٤هـ) پس خوشحال د کابل د صوبې صوبيدار سيد ميرخوافي په سازش ګرفتار کړے شو ، په پېښور ، ډهلي او اګره کښې ئې څهٔ کم پينځه کاله د نظر بندۍ او قېد سزا اوخوړله چې صحي سلامت خپل کور ته بېرته راغے ، ګڼې نو د مغلو د قېد خانې نه ژوندي راوتل هم د معجزې نه کم نهٔ وو ۔

ځينې خوش قسمته خلک داسې خوبونه هم ويني چې د رويّا صادقه په زمره کښې راځي ، د رويّا صادقه په نتيجه کښې راوتي



پښتو.نېټ PUKHTO.NET

تعبيرونه هميشه رښتيا خېژي ، ښاغلي خيام يوسفزي چې د کومو کومو څيزونو د تاثير ، د ځېنې عواملو او پېښو د تعبير ذکر کړے دے په داسې تعبيرونو خلک يقين ساتي -

ښاغلي مُحقّق چې د کومو کومو مأخذونو نه استفاده کړې ده ، دا مأخذ د عِلم و دانش نه ډکې فن پارې دي او "خوبونه په ورغوي" د دغې علمي کتابونو د ژوري مطالعې نه پس مرتب کړې شوي دي په پُښتو ادب کښې اګر که د خوشحال خان په کلام کښې د ځينې تعبيرونو او يا د پال ګرئ خبرې وجود لري ، خو د دې نه مخښکې او د دې نه وروستو په پُښتو کښې چا هم دغه قسم ته موضوع نه ده چېړلې يا کم از کم ماته نه ده معلومه، خوشحال چې د بدو کوم خوب اوليدو ، د هغه تعبير د هغه د ګرفتارئ او قېد په شکل کښې اوختو -

څه د بدو خوب وو چې مې اوليدو سحر
سترګې مې رنې کړې ناقرار شوم په بستر

يا د امير حمزه شينواري خوب چې :

خوب مې ليدو چې مې په خوب کښې خوب د وصل اوليد
دا به هُم خوب وينم دَ خوب هلهو بيـــان پاتې شــو

زه ډېر په ډاډه زړه د دې وينا جرات کوُم چې د خوبونو د تعبيرونو د معلومولو په باب کښې "خوبونه په ورغوي" وړومبے منظوم کوشش

دے ، او په دغه قسم ناویاته موضوع د کتاب لیکلو څهره د ښاغلي خیام یوسفزي په سر ده ،زهٔ دا هم توقع لرم چې نور د قلم خاوندان به هم په دغه دلچسپه موضوع قلمونه پورته کړي ۔

د دغې کتاب ژبه بیخي علمي او کلاسیکي ده ، د شعر په نازک وجود کښې د دومره ګرانو ټکو ، اصطلاحاتو او روزمره ځایول د یو عالم سړي کار دے ، او د عالمانو دغه فریضه ښاغلي خیام یوسفزي ډېره په ذمه دارۍ سره تر سره کړې ده، ځکه خو زهٔ هغه د داد مستحق ګڼم ، زهٔ د خوشحال په یو شعر خپله وینا راغونډوم :

دانائي ، علم و حکمت پکښې زیاتېږي
څوک چې ښهٔ وکا دَ شعر استعمال

دَ ادب خادم

**پروفېسر ډاکټر اقبال نسیم خټک**

۲٤۰ پروفېسر کالوني ، کوڅه نمبر ۲
زرعي پوهنتون
پېښور ، خیبر پُښتونخوا

۲۱ جنوري ۲۰۱٦



پښتو.نیټ PUKHTO.NET

# دُعا او رجا

بلوغت دَ عقل تَم شي په ځلوښت کښې
لا خو زۀ يمه دَ دري دېرشت په ازمېښت کښې

تعبيـــــرونه درته ښايم دَ خوبـونـو
پُوهـــؤم دې په اَسرار و په رازونـو

دَ لفظـونو په نبضونـــو به خبر شې
چې آګاه دَ دې کتـــاب په زېر و زوَر شې

مُنکشف چـې مطالب پـرې کله جاښ شـي
عاقلان به ورتـــه ډېـر ګُـوته په غاښ شـي

دغه چونګ نمـــونه بس ده دَ خــروار نه
اجمالاً ذکـــر اعلٰـــی دے دَ تکـــرار نه

دَ تعبيـــر علم خــو لوې دَ پـوهې کان دے
ما په زده کـــړه کـــړؤلے يـې خپل ځان دے

خيام يوسفزے

کۀ خطا وي چــرته شــوي پۀ تعجیل کښې
دا به وي چــرته کښـې خس پۀ رودِ نیل کښې

مُــــدعا کۀ مې څۀ وي نـــو بس دُعـــا ده
پس لۀ مـرګه کۀ مې غـوارې ارواح ښـــاده

ما به کــړې تجــربـــې وې پۀ دا کار کښې
کاش کۀ لږ شانتې وُزګار وے پۀ روزګار کښې

خدایه شکـــر تا تـوفیــق و ماتـه را کـړو
خپل بیاض مې ډک پۀ مشکـــو دَ رویّا کـړو

چې دَ خس ګنـــاه نه هم زۀ دست بــــردار یم
واخلې ما پۀ داســـې حال چې تابعـدار یم

فَاطِرَ السَّمٰوَاتِ وَالارْضِ أَنْتَ وَلِيِّي فِي الدُّنْيَا وَالاخِرَةِ
تَوَفَّنِي مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ (آمین)



پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

# مُقدمه

چې مئین په تاویلونـــو خدایه تا کړم
تاویلـــونه دَ خوبـــونـــو به اِنشاء کړم

خو تاویـل دَ خاص وګـــړي به ظَنّي وي (۱)
بس تاویـل دَ پېغمبــــر به یقیني وي

دَ یـــوسف علیه ســـلام دا معجزه وه
دَ عِلمونو او حکمت لـــویه چینـــه وه

امامان دَ تعبیرونـــو چې په شمـــار دي
په دنیا کښـــې اوازې دَ دوی دَ کار دي

(۱) ظن = دلته په معنیٰ دَ شک او قیاس دے. دَ ابن الجوزيؒ قول دے چې ظن په قرآن کښې په څو نورو وجوهات هم راغلے لکه: الشّک، الیقین، التُهمة، الحسبان وغیره.
چونکې دَ پېغمبر خبره وحي وي، نو په دا سبب تاویل یې درست وي.

"مُحمّد ابنِ سیـــرینؒ" اعلٰـی مقام وو
په "جعفـرؓ" او په "جابـرؒ" علم تمام وو ①

هم وو ښکلي دَ "دانیال" دي تعبیـرونه
سرچینې دي په "وصول" کښې تاویلونه ②

کهٔ "حافـظ ابن اسحاقؒ" زهٔ را په زړهٔ کړم
"اسمٰعیل ابنِ اشعثؒ" به هُم هېـر نهٔ کړم

خو "امام ابنِ سیـــرینؒ" لوی تابعي وو
لوی زاهد وو، پرهېزګار وو ، متقي وو

کتابـــونه تعبیـــرونه بلها ډېـر دي ③
په امّت دَ محمدؐ وَتــې له شمېـــر دي

---

① حضرت امام جعفر صادقؓ او حضرت امام جابر مغربيؒ۔
② کتابُ الوصول دَ حضرت دانیال علیه السلام۔
③ دَ مثال په توګه : مبادي التعبیر ، ایضاع التعبیر ،کتاب دستور ، کتاب التقسیم ، کتاب حقائق الرویّا ، منهاج التعبیر وغیره ......

دَ تاویل دَ پـــاره زده کــړه دَ تفسیر ده
احادیث دَ پاک نبــيؐ پکښې اکسیـر ده

باوري شه چې دا زړهٔ به دې پـرې ښاد وي
مثالـــونه او احکـام کهٔ درتــه یـاد وي

هر قیــاس دَ عقل و فهم پهٔ اساس وي
دَ لغاتــو پکښې هم ګورې لُوې لاس وي

پهٔ مُسلم او بُخــاري کښې ده رقمه ①
ده حصه دَ نبـوّت شپــږ څلوېښتمه

څهٔ به خیال وي ،څهٔ القا به شیطانــي وي ②
مُداماً بشـــارتــــونه رحمـــاني وي



① الرُؤيَا الصالِحَةُ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنْ النُبُوَةِ . ( مسلم و بخاري )
بل ځای کښې روایت دے او حضرت محمدؐ فرمایي چې زما د وفات نه پس به وحي منقطع شي مګر رښتوني خوبونه به باقي وي .
② بشارتِ الهي ، تسویلاتِ شیطاني او خیالاتِ انساني .

هُم يې ذکر په قــرآن کښې صفا شته دے ①
دغه "بُشْرَىٰ فِي الْحَيَاةِ الدُنْيَا" شته دے

دغه درې تُــوکه خوبــــونه درته ښايم ②
دَ رويّـــا لۀ کتابـــونــــو درته وايم

تعبير مۀ غواړه دَ خوب ، ګُورے دَ زن نه
دَ جاهل نه ، دَ بـې دينـــــه او دښمن نه

همېشه خوبـــونه وايــه خپل حبيب ته
يا يــې وايـــه معّبـــر ته ، يا لبيب ته ③

ډېره تل کـــوه دَ بد خوب لۀ بيـــانه
پۀ بد خوب کښې پناه غواړه لۀ شېطانه

① سورة يونس آيت ٦٤ -
② الرُؤيَا ثَلاثٌ فَبُشْرَى مِنَ الله ، وَحَدِيثُ النَفسِ ، وَتَخوِيفٌ مِنَ الشَيْطَانِ -
(صحيح بخاري - كتاب التعبير - باب القيد في المنام)
③ لبيب يعنې عالم يا تقوٰی دار -



پښتو.نېټ
PUKHTO.NET

کهٔ خوب اووينې دَ وېـــــرې نه بــرجته (۱)
يا شېطـــان دې پهٔ لړزه کــړي لهٔ هېبته

نو درې ځله لاړې کينړ طرف ته تو کړه (۲)
ورســـره استعـــاذه هم پهٔ ځان پُو کړه

نهايت به اَمن مـــومې لهٔ تخـــويفه
دا خبـــره به تهٔ نهٔ گڼـــې ضعيفه

---

(۱) برجت ، برجق يا برجغ : تر خُلې ډک ، ډک پک -

(۲) الرُؤيَا الحَسَنَةُ مِنَ الله فَإِذَا رَأى أحَدُكُمْ مَا يُحِبُ فَلا يُحَدِثْ بِهِ إِلا مَنْ يُحِبُ، وَإِذَا رَأى مَا يَكْرَهُ فَلْيَتَعَوَّذْ بِالله مِنْ شَــرِهَا ، وَمِنْ شَرِّ الشَّيْــطَانِ، وَلْيَتْفِلْ ثَلاثاً وَلا يُحَدِّثْ بِهَا أحَداً ، فَإِنَّهَا لَنْ تَضُرَّهُ .

نېک خوب دَ الله لهٔ طرفه دے -کله چې اوګوري يو پهٔ تاسو کښې چې دې دَ هغې سره مينه ساتي نو دے دې بيان نهٔ کـوي مګر هغه چاته چې دَ چا سره مينه کــوي او کله چې اوګوري هغه چې بد يې ګڼـي نو پناهي دې اوغواړي د الله نه دَ شـر دَ دغې خوب نه او دَ شر دَ شېطان نه - او درې وارې لاړې دې تف کــړي کينړ اړخ ته او هېچ چاته دَ دې خوب بيان دې نهٔ کـوي نو بـې شکه دا خوب به هېڅ کله ضرر نهٔ رسوي ده ته -

(متفق عليه)

# دخوبونو حقانیّت

عُلمـــا دَ انبیـــــاءُ وارثیـــن دي (۱)
تعبیرونـــو کښـې هم دا مُقرّبیـــن دي

خو په ښهٔ او بد عالم کښې فرَق کېـــږي (۲)
په ســـړو کښې ګا وخـــر نهٔ حسابېـــږي

تهٔ سَرخېل دَ علم ګـوره په نـــړۍ کښې
فرَق شته په سَمنـدر او په چُورړۍ کښې (۳)

کوم خوبـــونه چې دَ شپـې دَ ابتدا وي
دَ پنځه کاله موده کښې به رښتیا وي

کوم خوبونه چې دَ شپـې په مینځ کښې راشي
په یو څو میاشتو کښې دغه به رښتیا شي

---

(۱) إنّ العُلَمَاءَ وَرَثَةُ الانبِيَاء - (أخرجه مسلم والترمذي وأبي داوود وابن ماجة)
(۲) دلته علماء سُوء یعنې باطل مُلیان چې دَ أحبَارِ والرُهبَانِ په ترخ کښې راځي ، امام قرطبيّ فرمایي المُرادُ بِها أهلَ الكِتَاب وغیرُهم مِن المُسلِمین وهوَ الصَحیح -
(۳) چُورړۍ - ابشار

دریم خوبونه دَ سحر یا دَ صادق وي
په یو څو ورځو کښې دغه موافق وي

قیلوله کښې هُم خوبونه رښتیا کیږي ①
څه کهٔ ستر ګې پکښې لږ ساعت پټیږي

شیطانان دَ انبیاو په صورت کښې ②
راتلې نهٔ شي دوی په داسې یو حالت کښې

واړه ستوري نمر سپوږمۍ لیل و نهار
دَ شیطان سره دَ دې نشته اختیار

فرښتې لهٔ ځانه نهٔ شي جوړولې
په حکمت ترې رب اختیار دغه تړولې

① رُؤيَا النَهَارِ مِثلُ رُؤيَا اللَيلِ - باب الرُؤيَا بِالنَهَارِ - (صحيح بخاري)

② وَرُؤيَةُ النَبِي صَلَى الله عَلَيْهِ وَسَلمَ فِي المَنَامِ حَق ، وَلا يَتَمَثَلُ الشَيْطَانُ به ، وكَذَلكَ جَمِيعُ الاَنبِيَاءِ ، وَالمَلائكَةِ عَلَيهِمُ السَلامُ ، وكَذَلِكَ الشَمْسُ ، وَالقَمَرُ ، وَالنُجُومُ المُضِيئَةُ وَالسَحَابُ الذِي فِيهِ الغَيْثُ ، لا يَتَمَثَلُ الشَيطَانُ بِشَيءٍ مِنهَا - (شرح السُنة - الامام البغوي)

دَ تــــاويل ســــره نسبت دَ شخصيت وي
هُم جُـــدا دَ ملـــوکت او رعيّت وي

پهٔ جُدا مزاج تـاويل دَ دوی، ويستے شي
هُم امير غـريب او ښهٔ بَد، به کتے شي

دَ کافــر ســړي خوبـــونه رښتيا کېږي ①
دا دَ اَحسنُ القصَص نه څرګنـــد بـــږي

دَ خوبونــــو به پهٔ ورځـــو انحصـار وي
خو پهٔ دې کښې حَق خوبونه فقط شمـار وي

دَ خالــــې واړه خوبـــونه سعادت وي
دَ جمعـــې هغه نشاط ، عېش و عشرت وي

① قال القرطبي: هَذِه الايَة ٤٨ أصْل فِي صِحّة رُؤيَا الكَافِر وَأنّهَا تَخرُج عَلى حَسَب مَا رَأى (تفسير القرطبي سورة يوسف آية ٤٨)
مګر دَ ابن حجرؒ قول دلته دَ فکر وړ دے۔
إذَا رَأى الكَافِر أوْ الفَاسِق الرُؤيَا الصَالِحَة فَإنّهَا تكُون بُشرَى لَهُ بِهِدَايَتِه إلَى الايمَان - (فتح البَاري شرح صحيح البخاري)

دَ اتــوار او دَ ګل خوب به هُم سودمند وي
تل دَ نېک سـړي خوبـــــونه ارجمند وي

دا دَ نهـــې تـــاويلـــونه زما وروره
امامان دَ خــــوب به نهٔ درکــــوي ګــوره

دَ شــــورو هغه پُـــوښتل بهــــر دَ وَس دي
دَ شـــورو پهٔ ورځ هلاک اصحابُ الرَس دي (١)

دَ شــورو پهٔ ورځ هلاک هُم قوم دَ عاد دے
او عذاب پهٔ قوم دَ هود خو درته ياد دے؟

امّا خوب دَ بسيــــــار خــــور مُتخيّل وي
پهٔ خالـــي معده خوبــــــونه بې دليل وي

(١) اصحاب الرس يعنې خاوندان دَ کوهي ـ
دَ عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما قول دے چې هُم أهل قَرية مِن قـرىٰ ثمُود ( دا دَ ثموديانو دَ کلو نه يو کلي والا وو ) ابن جرير رحمه الله فرمايي دا أصحاب الاخدود دي۔ وقال عكرمة هُم أصحاب يٰس المَذكورون في سُورة يٰس ـ والله اعلم
نور تفصيل د پاره اوګورئ سورة فرقان آيت ٣٨ او سورة ق آيت ١٢۔




پښتو.نیټ PUKHTO.NET

چې دَ شپې خوراک کوي په اعتدال کښې
خوب يې حق دے په دليل او استدلال کښې

ځينې ځينې تاويلونه به برعکس وي
زهريلا مچۍ لېده به دَ مګس وي

دَ ژړا تاويل به کله په خندا وي
په لحد کښې ځان لېدۀ "خونه تالا" وي

دَ انځر خوړل په خوب کښې پښېماني ده
دَ طاعون راتله په خوب کښې دښمني ده

تعبيرونه درته ږدمه په ورغوي
اوس به چاته څۀ ابهام په خوب کښې نۀ وي

# الف (ا)

## وړومبے توک

## (۱)



پښتو.نیټ PUKHTO.NET

# ( آب - اوبهٔ )

احتمـــال به دَ امېد وي په منـــام کښې
چې نیـــولې دې اوبهٔ وي په یـو جام کښې

دغه جام کهٔ درنه مات شي او چُور چُور شي
نـو دَ ښځې یا بچي مرګ به ظهور شي

خوب کښې ګرمې اوبهٔ څښل کهٔ بیماري وي
نـو سړې اوبهٔ نـوشل صحت یـابي وي

دَ خوږو اوبـو تعبیـر به رزق حلال وي
یا دَ علم په دولت به مالا مال وي

دَ تـروو اوبـو تعبیر جعفر ښـودلے
په حاجت ، جدال ، الم یې دے ویستلے

دَ ليدونكي په تعبيــر كښې به محنت وي
دا دَ مالكــې اوبهٔ ځښكل به مشقّت وي

آب ګنــده كهٔ دې پهٔ بــرخه شي ناولي
آفتـــونه دَ ګــردون شُــو ستا پهٔ ؤلي

كهٔ پهٔ سطح دَ اوبــو هسې چلن وي ①
اعتقـــاد به ملابس دَ روح بدن وي

كهٔ پهٔ خوب كښې دې لهٔ پــوزې اوبهٔ لاړې
رَب به تا لهٔ پُوره خلاص كړي كهٔ يې غواړې

پهٔ جامه كهٔ درنه تُــوې دَ پــوزې آب شي
نــو تعبير دَ نر فــرزند به دَ دې خواب شي

---

① وَمَنْ رأى أنّهُ مَشَىٰ فَوْقَ الْمَاءِ فِي بَحْرٍ أو نَهْرٍ فَإنّهُ يَدُلّ عَلَىٰ حُسْنِ دِيْنِهِ وَصِحّةِ يَقِيْنِه -
( تفَسِيرَ اَلاَحلام - ابن سيرينؒ )
( جامع تفاسير الاحلام - تنبيه الافهام بتأويل الاحلام
أبو بكر بن محمد بن عمر الحنفي الاِحسائيؒ )



پښتو.نېټ
PUKHTO.NET

او کۀ دغه اوبۀ پرېــــوځي پۀ زمکه
نـــو تاویل ئې دې جینۍ ښکلې نازکه

جَل وهلے کۀ سېراب شولو پۀ آب کښې ①
دراز عمر ئې تعبیر شي پۀ دا باب کښې

لارې چارې دَ معاش به شي روانـــې
چې پۀ کـور کښې دې اوبۀ وي فراوانې

پۀ اوبو کښې ځان لیده فتنه او غم دے
او دَ ډک منګي تعبیر ورکړه ، کرَم دے

آب خانه کۀ چرته جوړه کړې پۀ خوب کښې
ستا ثانې به چرته نۀ وي پۀ شومتوب کښې

① ومَنْ رأىٰ كَأنَّهُ يَشْرَبُ مَاءً كَثيراً عَذْباً كَانَ طُولَ حَيَاةٍ وَطِيْبَ عَيْشٍ۔
( تفسير الاحلام ۔ ابن سيرينؒ )

بل تـــاويل دَ آب خانــې ، بده عورته
حــرام خوره ، جادوګـــره ، بد سيرته

کۀ دَ شنو اوبو تعبير پۀ رنځ طويل دے
نو دَ زيړ رنګې اوبو هم دا تاويل دے

علامت ئې پۀ تعبير کښې وي دَ شخړو
دَ وُلاړو ، ګنګخړو او دَ خړو

## ( آدم ) عليه السلام

بې خــريطه نـــړۍ څۀ وي ؟ انْهَدَم وي
آدميّت چې پۀ انســان کښې وي آدم وي

دَ آدم ليدۀ پۀ خوب کښې ولايت دے ①
استجاب دے دَ تــوبې ، يا هدايت دے

يــو تعبيـــــر ئې دے دَ لومو دَ دامونو
بل تعبيــــر ئې دَ دښمن دَ فـــريبونو

چـــــرې رنګ کۀ دَ آدم دَ مخ تَغير شي
پۀ حالاتو کښې بدلون به ئې تفسير شي

---

① وَعَصَى آدَم رَبّه فَغَوَى ثُمّ اِجْتَبَاهُ رَبّه فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدَى ـ سورة طٰهٰ ـ
او نافرماني اوکړه آدم ( له حکم ) دَ رب خپل ( پۀ سبب د هېرولو ) پس چپ شو ( له مطلوبه دَ خلوده ) بيا غوره کړو ده لره رب دَ دۀ پس رجوع اوکړه پۀ آدم پۀ قبول دَ توبې سره او هدايت يې ورته اوکړو ـ

دَ آدم سـره کۀ شي عامې خبـرې (۱)
نـو دا دي دَ علم و فضل ملغلرې

ستا پۀ خوب کښې ملګرتيا کۀ دَ آدم وي
بلندي ئې پۀ تعبير کښې بيا رقم وي

ځيګر خون هم پۀ فرقت کښې دَ اِحزان شته
پۀ ورغوي کښې خوبـونه دَ نسيان شته

(۱) وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاءَ كُلَّهَا - سورة البقرة -
او ؤښودل (الله) آدم ته نومونه ټول (دَ ټولو شيانو) -

# ( آيات )

خـــزانـــې دَ حکمتونـــو آياتـــونه
تدبُـــر غواړي ، هُم پـــوهه ، هُم علمـــونه

يو سل څوارلس سورتونـو باندې وېش دي
آيات شپږ زره او دوه سوه، شپږ دېرش دي **

چې مُعجِز دَ دې کتاب هر يو آيات دے
پهٔ عمل کښې سيـالي ګرندو لهٔ نجات دے

چـې ساکت ورته منقار شـــي دَ مارغانـو
آفـــرين وايم دَ مصر پهٔ قاريـــــانو ①

** دېرشت -

① زَيِّنُوا القُرآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ (قرآن له زينت ورکړې پهٔ خپلو غږونو سره) -
دغه لاج دَ مصر قاريانو ساتلے لکه عبدالباسط ، محمد صديق المنشاوي ،
عبد المنعم الطوخي ، خليل الحصري ، سيّد سعيد ، شيخ عنتر او داسې نور دېر -

استــوار په لار دَ دين کښې شي کارونه
چې تر غوږو شي په خوب کښې آياتونه

کوم آيات چې دَ وعيد او دَ زجَر وي
نـــو تنبيه په بد عمل بيا دَ بشر وي

کوم آيات چې دَ رحمت او بشارات وي
نـو بنده دې تل مشکور په عنايات وي

کوم آيات چې دَ قصص او دَ امثال وي
برملا په داسې خوب کښې بيا وُبال وي

دَ عذاب په تعبيرونـــو ئې جواب کړه
تلاوت چې آياتـــــونه دَ عذاب کړه

دَ غضب دَ آياتـونـــو څۀ تعبير وي؟
مُنحرف به په عمل کښې څوک اسير وي

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سورة الفاتحة | ٧ | سورة الروم | ٦٠ | سورة الحشر | ٢٤ | سورة الغاشية | ٢٦ |
| سورة البقرة | ٢٨٦ | سورة لقمان | ٣٤ | سورة الممتحنة | ١٣ | سورة الفجر | ٣٠ |
| سورة آل عمران | ٢٠٠ | سورة السجدة | ٣٠ | سورة الصّف | ١٤ | سورة البلد | ٢٠ |
| سورة النساء | ١٧٦ | سورة الاحزاب | ٧٣ | سورة الجمعة | ١١ | سورة الشمس | ١٥ |
| سورة المائدة | ١٢٠ | سورة سبا | ٥٤ | سورة المنافقون | ١١ | سورة الليل | ٢١ |
| سورة الانعام | ١٦٥ | سورة فاطر | ٤٥ | سورة التغابن | ١٨ | سورة الضحى | ١١ |
| سورة الاعراف | ٢٠٦ | سورة يس | ٨٣ | سورة الطلاق | ١٢ | سورة الشرح | ٨ |
| سورة الانفال | ٧٥ | سورة الصّافّات | ١٨٢ | سورة التحريم | ١٢ | سورة التين | ٨ |
| سورة التوبة | ١٢٩ | سورة ص | ٨٨ | سورة الملك | ٣٠ | سورة العلق | ١٩ |
| سورة يونس | ١٠٩ | سورة الزمر | ٧٥ | سورة القلم | ٥٢ | سورة القدر | ٥ |
| سورة هود | ١٢٣ | سورة غافر | ٨٥ | سورة الحاقّة | ٥٢ | سورة البينة | ٨ |
| سورة يوسف | ١١١ | سورة فصّلت | ٥٤ | سورة المعارج | ٤٤ | سورة الزلزلة | ٨ |
| سورة الرّعد | ٤٣ | سورة الشورى | ٥٣ | سورة نوح | ٢٨ | سورة العاديات | ١١ |
| سورة إبراهيم | ٥٢ | سورة الزخرف | ٨٩ | سورة الجن | ٢٨ | سورة القارعة | ١١ |
| سورة الحجر | ٩٩ | سورة الدخان | ٥٩ | سورة المزّمّل | ٢٠ | سورة التكاثر | ٨ |
| سورة النحل | ١٢٨ | سورة الجاثية | ٣٧ | سورة المدّثر | ٥٦ | سورة العصر | ٣ |
| سورة الاسراء | ١١١ | سورة الاحقاف | ٣٥ | سورة القيامة | ٤٠ | سورة الهمزة | ٩ |
| سورة الكهف | ١١٠ | سورة محمّد | ٣٨ | سورة الانسان | ٣١ | سورة الفيل | ٥ |
| سورة مريم | ٩٨ | سورة الفتح | ٢٩ | سورة المرسلات | ٥٠ | سورة قريش | ٤ |
| سورة طه | ١٣٥ | سورة الحُجُرات | ١٨ | سورة النباء | ٤٠ | سورة الماعون | ٧ |
| سورة الانبياء | ١١٢ | سورة ق | ٤٥ | سورة النازعات | ٤٦ | سورة الكوثر | ٣ |
| سورة الحج | ٧٨ | سورة الذاريات | ٦٠ | سورة عبس | ٤٢ | سورة الكافرون | ٦ |
| سورة المؤمنون | ١١٨ | سورة الطور | ٤٩ | سورة التكوير | ٢٩ | سورة النصر | ٣ |
| سورة النّور | ٦٤ | سورة النجم | ٦٢ | سورة الانفطار | ١٩ | سورة المسد | ٥ |
| سورة الفرقان | ٧٧ | سورة القمر | ٥٥ | سورة المطففين | ٣٦ | سورة الاخلاص | ٤ |
| سورة الشعراء | ٢٢٧ | سورة الرحمٰن | ٧٨ | سورة الانشقاق | ٢٥ | سورة الفلق | ٥ |
| سورة النمل | ٩٣ | سورة الواقية | ٩٦ | سورة البروج | ٢٢ | سورة الناس | ٦ |
| سورة القصص | ٨٨ | سورة الحديد | ٢٩ | سورة الطارق | ١٧ | | |
| سورة العنكبوت | ٦٩ | سورة المجادلة | ٢٢ | سورة الاعلىٰ | ١٩ | | |

**كُل آيات : ٦٢٣٦**



پښتو.نېټ PUKHTO.NET

## ( ابابيل ) [١]

حفاظت يې دَ کعبې په ابابيل کړو [٢]
دَ حمـــزه دغې مصرعې مې شعر جميل کړو

ابابيل کۀ چرته مړه شي ستا په خواب کښې
نـــو تنبيه دَ کارِخېــــر وي په جواب کښې

علامت دَ استـــراح يې بيا تـــاويل وي
کۀ دې لاس لۀ څۀ راغلــــي ابابيل وي

کۀ تۀ ځـــان دَ ابابيل په ځېر اووينـــې
علامات دَ غل او غـــلا ګڼه مبينـــې

---

(١) زمونږ په بعضې سيمو کښې ابابيل دَ توتکرکې دَ پاره مستعمل دے او دا اعتراف کؤم چې دغه اصطلاح سمه نۀ ده ، حقيقتاً ابابيل دَ لغت په اعتبار جمع ده چې مفرد نۀ لري او معنیٰ يې " ډلې ډلې" ده خو اطلاق يې فقط په مارغانـــو کېږي مثلاً طَيْراً أَبَابِيل يعنې مارغان ډلې ډلې ـ توتکرکې ته عربی کښې خطّاف يا سُنونو وايي ـ

(٢) دَ مئين د زړۀ کعبه فوځونه څۀ کړي
حفاظت يې دَ دې کور په ابابيل کړو (حمزه بابا)

کۀ دې کـــور دَ ابـــابيلو نه ډک ګورې
مال اموال به پۀ تعبير کښې بې شک ګورې

کۀ پۀ زور دې ابابيـــل وي رانيـــولې
دولتـــونه دَ حـــرامو دې ګټـــلې

کۀ دې لار چـــرته دَ کـــوره ابابيل وي
نو سفـــر به دَ نابُلُســـي بيا تاويل وي ①

① شيخ عبد الغني بن إسماعيل النابلسيؒ

# ( ابر یا وریځې )

اوس به اَبر په شعرونو کښې تسوید کړم (۱)
تعبیــــرونه دَ قدیمو به تجدید کړم

دا کهٔ سپینه وي ،کهٔ سُره وي،کهٔ سیا وي (۲)
تعبیـرونه به دَ هر اَبـــــر جُدا وي

ستا دَ علم به وګـــړو ته فائـــده وي
کهٔ لیدلـــې دې وریځې سُفېده وي

کهٔ لېدلــې دې وریځې تکـې زیړې
وي تاویل دَ غم و رنځ دُندوکار لړې

---

(۱) ابر یعني سحاب یا وریځې۔

(۲) وقَالَ جعفر الصادقؓ: رُؤيَا السَحَابِ تُؤَوَلُ عَلىٰ تِسعَةِ أَوجُهٍ: حِكْمَةٌ ،وَرِيَاسَةٌ ، وَمُلكٌ ، وَرَحْمَةٌ ، وَعِفَةٌ ، وَعَذَابٌ ، وَقَحطٌ ، وَبَلاءٌ ، وَفِتنَةٌ ۔

سْرې وريځې په مثال لکه دَ نــــاروي
په غضب يې تـــــاويلونه دَ اَســـراروي

کۀ وُلاړ ابَــر په ســـر لکه سايـه وي
نو دَ خپــر امېل په دُرّو کښـــې سفته وي (۱)

(۱) سفته يعنې پيئلې شوے.

## ( ابراهیم ) علیه السلام

کُنیّت یـې په سبب دَ دستـر خـوان وو ①
ابـراهیم خلیلُ الله ابـو ضیفـــان وو

روئیت یـې ابتــلا ، ثابت ایمــان شي
علامت په اِنْتِفــاع یــې دَ انســان شي

عبــادت و بــزرګي یا اطاعت وي
دَ خلیــل ع لېـدهٔ دَ خیــر و بــرکت وي

پیشګــویــې به یې خلل دَ اضطرار شي ②
چې خلیــل ع دَ نجومي دَ خوب مدار شي

---

① ابو ضیفان : کنیه ـ مېلمنو والا
② اظطرار : بې چېنی ـ
مدار : منحصر یا ملاحظ

پهٔ تعبيـــر کښـــې علامت يـــې دَ شفا وي
چې خليــــل ع دَ رنځورانــــــو مسيحا وي

دَ خليل ع پهٔ خوب کښې نور هم تاويلات دي
دَ دښمن دَ زهر کــولو پکښـــې زيات دي

بل تــاويل يـــې دَ کــرَه حجِ اکبـــر دے
چې چا ؤلېد نــو بــې کچه بختــور دے

کله کله يــې تعبيـــــر پهٔ طلاق کېـــږي [1]
دَ لېدونکــي پهٔ زامنـــــو اِطلاق کېـــږي

مُصاحب يا همســـــري کهٔ دَ خليــل ع وي
ولايت او مرتبـه يـــې بيـــا تاويـــل وي

---

(1) همسري: برابر، يو شان.

بل تاویـــل یې دَ زامنـو بد خـــوئي ده
چې پلارانـــو لره لویه سـر خـــوړي ده





پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

# ( ابرو - وروځې )

ښائيسته کۀ دې ابْرو وي پۀ ترتيب ښۀ
دَ ايمان قوّت به شي ستا پۀ نصيب ښۀ

کۀ يې ګـــورې بې تــرتيبه يا بد رنګه
بر خلاف به يې تعبير وي لۀ فـــرهنګه ①

① يعنې پۀ کمزورې ايمان به تاويل شي .





پښتو.نېټ PUKHTO.NET

# (ابلیس یا شېطان)

زۀ پنـــــاه غـــوارمه خدايه لۀ شېطانه
مبّـــرا مې لۀ فتنـــو کـــړه ، لۀ نقصانه

هُم پنــــاه غوارم تــر دۀ پۀ زنکدن کښې
لُوې غلیم لۀ ابلیس نشته پۀ زمن کښې

کُنیّت يې پۀ يو قـول "ابوکردوس" دے ①
لۀ ازله مکـــــرژن ډک دَ سالوس دے

اوس تعبیر به دَ ابلیس وي چې مردود دے
کۀ ابلیس دے کۀ همه دَ دۀ جنـــــود دے

① الاتقان في علوم القرآن ـ
( عبد الرحمن بن أبي بكر جلال الدين السيوطيؒ )
قصص الانبياء
( حافظ ابن کثیرؒ )





پښتو.نېټ PUKHTO.NET

کهٔ ابلیس درله درکړے څهٔ انعـــام وي
پهٔ تعبیر کښې دا فتنه او مال حرام وي

امّا تهٔ کهٔ پهٔ خپل خوب کښې دے مغلوب کړې ①
دا خپل زړهٔ به کارِ خیـــر وَ ته مرغـــوب کړې

پهٔ ولقه کښې دَ شیطـــان کهٔ گـرفتـــار شوې ②
نـو اخته پهٔ خنډ و خار کښې دَ اَضرار شوې

کهٔ ابلیـــس دې وي وژلے هلاک کړے
پهٔ تملیک کښې ښهٔ عمل دې املاک کړے

---

① إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِّنَ الشَّيْطَانِ تَذَكَّرُوا فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ -
(سورة الاعراف)

② أنه يدل على حصول مضرة في ماله وجسده (خليل بن شاهين الظاهريؒ)
خلیل بن شاهین الظاهريؒ لوی مُعَبر تېر شوے (۸۱۳-۸۷۳) هجري -
مصنف دَ الکوکب المنیر في أصول التعبیر ، او الاشارات إلی علم العبارات -
اضرار: زیان او نقصان په مال ومتاع یا وجود کښې -

# ( اتفاق )

؟

دَ پښتـــــــون دَ اتفاق تعبيـــر اونۀ شو
نور دَ هر يو خوب تعبير مې دې ويستلے

## ( اچار )

مسئلې پېدا کوي دَ ساه نالۍ ته
ژبت زيانونه رسوي دا وَ مرۍ ته

دَ اچار خوراک خو اور دے وَ معدې له
وايه ته يې خورې نقصان له که فائدې له؟

خوراکي دانه را اوباسي په مرۍ کښې
اچارونه بنده ګېر کړي په خوارۍ کښې

شک يې نشته دے په خوندا و په چسکه کښې
همېشه سړي ته څه جوړ شي په څه کښې

که په خوب کښې دَ اچارو نه خوند اخلي
لاس له خپلې عقيدې به په ژوند اخلي

یا په لار دَ رفـــاقت کښې بې ننګـي ده
یا تعبیـر یې دَ بې ذاتـــو اشنـــايي ده

په اسـراف دَ اسراف خویــو دلالت شي
دَ بدانـــــو په صحبت هُم کنـــایت شي

## (احمد - محمد) صلی الله علیه وسلم

پهٔ بیــــــان دَ "محمدؐ" آخــــر زمان یم
هــــزار شکر چې خاکــروب یې دَ آستان یم

خپل حبیب راته پهٔ خوب کښې راحضور کړه
ما غـــرقاب یې دَ وصال پهٔ آب ضرور کړه

پهٔ دیدن دَ "محمدؐ" کهٔ بهــــره منـــد شي
پهٔ دنیــــا او آخـــــرت به ارجمنـــــد شي

شیــاطین نهٔ شي راتلے پهٔ دا تمثیــــل کښې ①
ازغي نهٔ شي جوړېدے ستا پهٔ سبیل کښې

---

① مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَآنِي فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لا يَتَصَوَّرُ أَوْ قَالَ لا يَتَشَبَّهُ بِي ـ
( راوه البخاري و مسلم )

دغه خــوب به دَ رحمت او دَ عــزت وي
دغه خـــوب به دَ نعمت او جميعت وي

بزرګـــي دَ دوارو کــونو دې نصيب شه
تهٔ دَ دوارو سترګــو تور دَ خپل حبيب شه





پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

## ( ادریس ) علیه السلام

پۀ دنیا کښې وو، وړومبے وعَظ کونکے
هُم ادریسؑ وو، پۀ قلم اول لیکونکے

چې ستاینــــې یــې ستایلــې عَلِیّا دي ①
پۀ ورغــوي کښې خوبـــونه یــې اعلیٰ دي

نـــــزدیکت دَ اکابــرو یې تاویـــل دے
پۀ بـــــردباره عالمانـــو هُم دلیـــل دے

اوازې دَ عقل و فهـــم پۀ ثبـــات کښې
مُتصّف کۀ یې موصوف شي پۀ صفات کښې

① وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا - سورة مریم -
او پورته کړے دے مونږ دې ځای ډېر اوچت ته -

## ( اډرکې ، اړرقې یا اینګې )

پۀ تعبیــــر کښې لۀ ادابــــو نه آغاز دے
پۀ اجمال کښې مې تفصیل بویه اعجاز دے

پۀ معمول کښې اډرکــې نه پس هــر وخته
منت بـــار دَ پاک سبحان اوسه نېک بخته

پۀ سنّتو کښې تعقیب دَ پاک رسولؐ کړه ①
پۀ ادابــو کښې دا ټول پۀ ځـــان قبول کړه

چـــې پَـــرچار دَ حکمتونـــو عریضه کړم
پۀ تعبیـــر کښـې به پۀ ځان یې فریضه کړم

① عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : تَجَشَّأَ رَجُلٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : كُفَّ عَنَّا جُشَاءَكَ فَإِنَّ أَكْثَرَهُمْ شِبَعًا فِي الدُّنْيَا أَطْوَلُهُمْ جُوعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ .
( صحيح الترمذي / صحيح الجامع الصغير - الشيخ الالبانيؒ )
إِذَا تَجَشَّأَ أَحَدُكُمْ أَوْ عَطَسَ فَلَا يَرْفَعَنَّ بِهِمَا الصَّوْتَ ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يُحِبُّ أَنْ يُرْفَعَ بِهِمَا الصَّوْتُ ( شعب الايمان-أبو بكر البيهقيؒ )

امامان چې تعبیـــــــرونه واړه کاندې
کهٔ يې نغوږې تـول به کېږدم ستا دَ وړاندې

دَ آروغ تعبیــر پهٔ اصل کښــې حُرمت شي
يا تعبیـــــر به يې پهٔ چـــارو دَ عِلّت شي

پهٔ آروغ کښـــې کهٔ طعام دَ خُلې نه ځينه
وخت اخر به دَ لېدونکـــــي دَ خوب وينه

اډرقـــې کهٔ چـــرته ترْيو وي يا ګنده وي
پهٔ ګفتـــار کښې به ملحوظ وَته خطره وي

## ( اذان )

دَ احمـــق پهٔ احمقـــۍ تعبیـــــر بیـــان کا
پهٔ گنده ځائې کښې چې څوک پهٔ جار اذان کا

کهٔ پهٔ خوب کښې پهٔ اذان پورې ریشخند کا ①
نـــــو وَ عقـــل به سلب لهٔ دانشمنـد کا

کهٔ پهٔ خوب کښې پهٔ بـازار کښې اذان شینه ②
دغه ځـائې کښې علامت به پهٔ مرګ وینه

چې اذان دَ مـــــؤذن دَ چا پهٔ چهت وي
دغه کـور کښې علامت دا پهٔ رحلت وي



① وَمَنْ رأىٰ كَأنَهُ يُؤَذِنُ فِيْ سَبِيْلِ اللّهْوِ وَاللعبِ سَلَبَهُ اللهُ عَقْلَهُ ۔
② وَمَنْ سَمِعَ أذاناً فَي السّوقِ دَلَّ ذٰلِكَ عَلىٰ مَوْتِ رَجُلٍ مِنْ أهْلِ السّوقِ ۔
( تفسیر الاحلام ۔ ابن سیرینؒ )



پښتو.نېټ PUKHTO.NET

پهٔ خپل تـــوان او استعداد سرو سامان کا
کهٔ دَ شکـــو پهٔ ډېر ناست چرته اذان کا

پهٔ زړګـــي کښې دې بې مهـــره کِبـريا ده
پهٔ اذان کښې کهٔ کمـي بيشي دا ستا ده

چې اذان دَ يو ماشـوم چـرته پهٔ جار وي
مستريح به پهٔ تعبيـــر يې مور او پلار وي

اقامت او مونځ چـــې وي پس لهٔ اذانه
دا دليل پهٔ حج عمـــــره وي زما ځانه

پهٔ الحان کښې دَ اذان کهٔ مشتغِل يې ①
اکابـــــرو ته قـــــريب به لکه دِل يې

① وَالاذَانُ أوْ رَفعُ الصَّوْتِ بِذِكْرِ اللّٰه تعَالىٰ دَالّ عَلى التّقَرّبِ مِنَ الاكَابِرِ، خَاصّةً إذَا كَانَ الاذَانُ بَصُوْتٍ جَمِيْلٍ۔
( تفسير الاحلام ۔ ابن سيرينؒ )

کهٔ دَ شاه ملک پهٔ در پورته اذان کړي ①
راست ګویي او صداقت به پهٔ جهان کړي

① وَمَنْ رَأىٰ أنه يُؤَذِّنُ عَلىٰ بَابِ السُّلطَانِ فَإنَّهُ يَشْهَدُ شَهَادَةَ حَقٍ۔
( تفسیر الاحلام ۔ ابن سیرینؒ )





پښتو.نیټ PUKHTO.NET

# ( اراړه یا لُکنت )

چې اخـراج دَ مخارجـــو نه مُجمل وي
نو ګفتـــار دَ عاقلانـــــو هم مُهمل وي

سرنګـــون په اِستماع او مارَسات کښې
شه قانـــع په خپله بـــرخه تمتمات کښې

چې دعا دَ "ربّ اشرح لي" ته کـــار وايي
نو آمین پـــرې فرېښتـــې دَ انـــوار وايي

رفع دفع په ایجـــاب به تمتمه شـــي
تعبیـــــرونه به بیـــــان دَ اراړه شـــي

کهٔ په خوب کښې تُـرتُـرې ژبه ګویا وي
په نېستۍ کښې دَ هستۍ تعبیر زېبا وي

عقل و فِهم وابسته لۀ شریعت شــي
یا نصیب یــې فصاحت او بــلاغت شــي

غلبه یا حکـــومت یا ننګ و نام دے
خبـردار پرې ذُوالجَلالِ وَالاِکــرام دے





پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

# ( ارتړ )

پهٔ میتړو کښې تـــر شلو ژور نهٔ وي
دَ ارتړ کـوهے تـر شلو نه کم ښهٔ وي

زیات ژور چې شي لوټکي به پرې درنېږي
پهٔ مهال او ډېـــر طاقت ګاندي څورلېږي

چې کوهے دَ سپند پهٔ خوا کښې وي ځلار وي
هـر سړے دې پهٔ دا نــوم یې خبردار وي

راټینګ څرخ وي پهٔ جلېږ او امراګانـو
ناوګۍ دَ څرخ ســره لاړ وي یـــارانو

دغه څرخ چې پهٔ څهٔ چـورلي هغه لټ وي
تعبیـــرونه به اوس وړاندې دَ ارتړ وي

پهٔ ارَتِ کښې خرابــي کۀ درته را شي
ستا پهٔ اهل کښې خامي به را پېدا شي

کۀ ارَتِ پهٔ خوب کښې مات وي يا ولاړ وي
ستا به خونه دَ يو خپل پهٔ مرګ لتاړ وي

دَ ولاړ ارَتِ تعبيــــر دوهم زوال وي
دَ معاش پهٔ تنګ دستئ کښې دا بدحال وي

دروازې به دَ رِزق بېـــرته پهٔ هغهٔ کا
دَ روان ارَتِ ليدهٔ چې خوب کښې وهٔ کا

د ارَتِ دَ ګرځېـــــدو آواز کۀ ښهٔ وي
پهٔ تعبير کښې ښهٔ خبـــر يې اورېدهٔ وي





پښتو.نېټ PUKHTO.NET

د ارَټ د څرخېـــــدو غــوږه خرابه [1]
اضطـراب شي راويسته لۀ داسې خوابه

اوچ ارَټ دهوکه، فريب وي او خداع وي
دَ کـــوهي ويستل تعبير به دَ جماع وي



① غوږه : دَ څرخ وغېږه دَ څرخېدو ورو شان آواز -



پښتو.نېټ PUKHTO.NET

# د ارټ څو انځورونه

د ګوهر ننګیال په مرسته



پښتو.نیټ PUKHTO.NET


پېړ
چت
گاندهي
چکلی
پارچه
لوټکي
بُتکے
نثار
کوهے
ناوگی
بیاسته
امراگان
جلړ


غشے
ډول
بړونی
لټ
کانجړ












پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

# ( اره )

دَ لرګي پرېکولو آله

پهٔ ورغـــوي کښې خوبــونه دَ ارې دي
تاويلـــــونه تعبيــــرونه دَ ارې دي

علامت يې پهٔ خوبونـو کښې تفريق شي
فېصله ،پهٔ کشــــاله کښې دَ فريق شي

تجّسُس دَ يــو ثالِث ســـړي هُم وينــه
اِنفصال يې هُم تعَبيــــر دَ زوجين شينه

اره شوے پهٔ اره کـهٔ آدم ذات وي
نو تعبيـــر به يې کثـــرت دَ ذُرِيّات وي

---

( تجسُس : جاسوسي ا ثالث : دربم ګړے ا انفصال : جدايي )
( ذريّات : نسل يا مال متاع )

# (اژدها)

کهٔ لیدلـــې دې پهٔ خوب کښې اژدها ده
نو تـــاویل يې دښمنـــي شر و غوغا ده

کهٔ پهٔ جنګ کښې پهٔ مړانه دې لاس بَر شي
نـو دښمـن به دې رښتیا زېر و زبر شي

پهٔ تسخیـــر دَ اژدها کهٔ تهٔ خـــوشحال يې
نو غالب به پهٔ غلیم پهٔ هـــر يو حـــال يې

کهٔ جـــوار دَ اژدها وي بـــې ضـــرره
نو تعبیـــــر دَ داسې خوب ګڼـــه بهتـــره

دا تـــاویل دَ هـر موذي مارو لړم وي
زهـر زهـر وي کهٔ زیات وي او کهٔ کم وي

---

مزید تعبیرونو دَ پاره حرف " میم " کښې دَ لفظ " مار " اوګورئ

# ( اسپ )

یو هُنـــر دَ ملوکانـــو اَسْپ تـــازي دے
چې بیان یې په "دستار" کښې تفصیلي دے [۱]

دَ دروندوالـــي دَ عـزت دَ بـــــزرګۍ ده
دا دَ اس سورلـــي هم نخښه دَ لــویۍ ده

پهٔ تعبیــر کښې احتمــال دَ شتمنـــۍ وي
کهٔ نـوش کړي دي دَ اسپـي چـرته پۍ وي

خریدار او کهٔ ســورلي پـرې دَ عازِب وي [۲]
نو ښـائېسته او نېکه ښځه یې نصیب وي

(۱) دستار نامه دَ خوشحال بابا کتاب سن 1076 هجري کښې لیکلے شوې وو ـ چې هغه وخت اورنګ زېب عالمګیر مغلي حکمران وو ـ والله اعلم
(۲) عازب لونډ ، جرَه سړي ته وایي ـ





پښتو.نېټ PUKHTO.NET

زيـــــږولې کۀ بچے چـــرته فـرس وي (۱)
پۀ تعبير کښې مال اسباب دَ داسې کَس وي

دَ اسبـاب دَ ملک لښکـر بـه يې تالا شي
کۀ پۀ خوب کښې مړه اســونه را نمـــا شي

کۀ دَ اس نه يې کوز شوے پۀ منام کښې
لۀ عزته به لاس اووېنځـې پۀ قام کښې

پۀ سرکشه اس تـــاويل به ستا دَ نفس وي (۲)
دَ هوښيـــار دَ پاره دا اشــــــاره بس وي

(۱) حصان ، فرس او خيل پۀ عربي لغت کښې اسونو ته وايي .
(۲) دلته دَ نفس نه مراد نفسِ امّاره به وي .
- وَمَا أُبَرِئُ نَفْسِي إِنَ النَفْسَ لَامّارَة بِالسُوءِ .
نفْسَ الامّارة هغه نفس چې انسان غلطو کارونو ته مايل کوي .
- يَا أَيَتُهَا النَفْسُ الْمُطمَئِنَةُ ارْجِعِي إِلَى رَبِك رَاضِيَةً مَرْضِيَةً .
نفْسُ المُطمَئِنَة هغه نفس چې دَ قيامت پۀ ورځ به پرې څۀ وېره ترهه نۀ وي .
- وَلَا أُقْسِمُ بِالنَفْسِ اللوَامَة .
نفسِ لوامّه هغه نفس چې دَ ګناه نه پس انسان ملامته کوي .





پښتو.نېټ PUKHTO.NET

پهٔ دا تــرخ کښــې څو حدیثه به برسېر کړم ①
احتمال به دَ اسـونـــو زیات پهٔ خبر کړم

ما سپــوا دَ یو اسونـــو دَ "شکال" نه ②
چې الله یې خبـــــردار دے دَ احوال نه

① الْخَيْلُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ (رواه مسلم)
دَ اسونو دَ تندو سره خېر تړلے شوے دے دَ ورځې دَ قیامته پورې ـ
خېر نه مراد اجر او غنیمت دے ـ
- الْبَرَكَةُ فِي نَوَاصِي الْخَيْلِ (مُتفق علیه)
خېر او برکت په ستهونو دَ اسونو کښې دے ـ

② قَالَ كَانَ رَسُولُ الله يَكْرَهُ الشِّكَالَ مِنَ الْخَيْلِ وَالشِّكَالُ أَنْ يَكُونَ الْفَرَسُ فِي رِجْلِهِ الْيُمْنَى بَيَاضٌ وَفِي يَدِهِ الْيُسْرَى أَوْ فِي يَدِهِ الْيُمْنَى وَرِجْلِهِ الْيُسْرَى (رواه مسلم)
د الله حبیب به مکروه ګڼلو شکال اســونه ، شکال چې داسې اس وي چې پهٔ ښي خپه کښې یې سپین والې وي ، او دَ هغه پهٔ دا ګس لاس او خپه کښې سپین والې وي او یا پهٔ ښي لاس کښې او ګس لاس کښې سپین والې وي ـ
- دَ کراهت څهٔ ظاهري وجه یې اُمَت ته معلومه نهٔ ده خو کهٔ چرې دغه سپین والې یې پهٔ تندي کښې هم وي نو بیا پکښې مکروه والې نشته ـ

# (اسپغول)

اسَپغول چې پُښتـــانۀ ورته ست وائـي
طبیبـان یې پۀ بې شمېره خوبـو ستائـي

پۀ ساړه پئیو کښې سَت چې خواړه کېـږي
دَ معدې ســوزش جلن به پـرې ورکېـږي

دَ اسهـال رنځور په دې باندې جوړېــږي
دَ مستو ســره چې یو ځاې خوَړے کېـږي

دائمــي قبض ماتېـــږي پۀ دې هم ښۀ
کۀ یې خوري دَ تـــړمو پئیو سره سم ښۀ

مُجرّبه نسخه" سَت" شي پۀ اکسیـر کښې
چې زحمت دَ شـــرم ډېر شي بواسیر کښې

پۀ خوبونو کښې تاثیر دَ "ست" جدا دے
پۀ بقا کښـــې یې تعبیـــر دَ لا بقا دے

دَ الم دارو یې مۀ ګڼـــه پۀ خواب کښې
دغه لومه دَ رنځ زیان ده پۀ ګرداب کښې

پۀ ورغوي کښې خوبونه د "سَت" دا شول
زحمتـــونه پۀ تعبیـــر کښې لا دوا شول





پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

# ( استاد )

زدکونکي چې په زړه کړه کښې مُعتاد وي
داسې خلک پُوی په قدر دَ اُستاد وي

کۀ پۀ عِلم کښې تصحیح دَ عمل کېږي ①
دَ عمل سره حکمت به حاصلېږي

قاعده کۀ دَ ادب وي درته یاده
عِلم هله اخېسته شي لۀ اُستاده

چې پۀ سر دَ تَعَلُّم یې لوئ دستار وي
داسې خوب به دَ عزت او دَ وقار وي

① کتاب: آداب المُعَلِمین ( مسائل في التربیة والتعلیم ) 256هـ
أبو عبد الله محمد بن سُحنون المالکيؒ.





پښتو.نیټ PUKHTO.NET

بـــزرګي او دانايـــي يې هُم تعبيـر شي
شاګـــردان کۀ دې پۀ علم کښې اسير شي

چــې اُجـــرَت د تَعَلُّم پۀ بـــن بنـا شي
داســـې خوب به هويـــدا پۀ جُهلا شي

# ( استغفار یا توبه )

کهٔ پهٔ خوب کښې شرمسار تهٔ پهٔ ګناه يې
یا تـــوبه او استغفـــار وايې لګیا يې

خجالت کهٔ ورســـره دَ خپل اعمـــال وي ①
نو تعبیر دَ دې بخښنه ، زوے یا مال وي



① فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ○ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا ○ وَيُمْدِدْكُم بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَارًا -
نو اووېیل ما دوی ته، بخښنه وٛغواړئ لهٔ خپل رب څخه بېشکه هغه دے بخښونکے ○ را ؤ وروي به پهٔ تاسو باران ډېر ورېدونکے ○ او کومک به کوي ستاسو پهٔ مالونو او پهٔ زامنو سره ، او وٛبه ګرځوي ستاسو دَ پاره باغونه او وٛبه ګرځوي ستاسو دَ پاره نهرونه - ( سورة نوح )



پښتو.نیټ PUKHTO.NET

## (اسرافیل) علیه السلام

کۀ پُوکے دَ اسرافیل شي پۀ شپېلۍ کښې ①
نو تعبیر يې دَ فتنې دے پۀ سختۍ کښې

یا حمَل به شي ضایع دَ امیدوارې ②
یا بچے به مْري دَ ښځې اول وارې

پۀ تعبیر کښې دَ ظالم نوغې اوکارېږي
هغه څوک چې پۀ مظلوم نوکې راکارېږي

مُشرف کۀ يې بشر پۀ ښۀ صورت شي
نو تعبیر يې بزرګي ، شان و شوکت شي

① وَنُفِخَ فِي الصُورِ فَصَعِقَ مَن فِي السَمَاوَاتِ وَمَن فِي الارْضِ - ( سورة الزمر )
او پوکل به اوکړلې شي په صور کښې پس بېخوده مړه به شي هر هغه
چې په آسمانونو کښې دي او هر هغه چې په زمکه کښې دي -

# ( اسلحه یا وسله )

که وسله دَ مسلمان سـري زېـوَر دے
خو طاقت پـرې دَ قلم بالا او بـر دے ①

چې کُفّـــار ورته انګُشتِ به دندان شي
دَ دې نخبنه دي پخه د مسلمـــان شي ②



---

① علم ته لمسونکي آیاتونه :
- وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَات (سورة المجادلة ٥٨)
- وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِين (سورة الاعراف ١٩٩)
- وَمَا يَذَّكَّرُ إِلا أُولُو الالْبَاب (سورة البقرة ٢٦٩)
- وَقُل رَّب زِدْنِي عِلْمًا (سورة طه ١١٤)
- اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَق (سورة العلق ١)
- فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لا تَعْلَمُون (سورة النحل ٤٣)

– إنّ أوّلَ مَا خَلَقَ اللهُ القَلمَ قَالَ له اكتُبْ، قال: مَا أكْتُبْ؟ قَالَ: اكتُبْ القَدَرَ، مَا كَان، ومَا هُو كائنٌ إلى الابَد (رواه الترمذي وقَالَ الالباني صحيح)

② وَأَعِدّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوّة -
ألا إِنَّ القُوّةَ الرّمْيُ ألا إِنّ القُوّةَ الرّمْيُ ألا إِنّ القُوّةَ الرّمْي -
(راوه مسلم)



پښتو.نیټ PUKHTO.NET

دَ حـريف پهٔ مُقابـــل کښې غلبه وي
ستا پهٔ لاسو کښې کهٔ چــرته اسلحه وي

ستا وسلــې ته کهٔ دَ چا خاطر درنېــږي
دَ کينــــې تعبيـــر دَ دې نه ځرګند بــږي

ضعيفي يې پهٔ تعبيــر کښې دَ فردا کــړه [1]
جابرانـــو کهٔ وسله درنـــه تالا کــړه

اسلحه لکـــه پهٔ مثــل دې کالے شــي
يا پهٔ زغــره دې دا تـــن بدن ډؤلے شـي

نو تعبير يې شتمني ده ، مال دولت دے
هم خېـــرونه دي او هم يې بـرکت دے

---

(١) فردا : راتلونکے وخت .

## ( اسماعیل ) علیه السلام

سرکشـــي وه دَ اسونـــو په طبیعت کښې ①
چې مانوسه اسماعیلؑ کړه په عادت کښې

دا چې مونږه اوس سورلي کړو په اسونـــو ②
دا زمونـــږه میـــــراثه ده دَ لرغونـــو

په تاویل کښې یې لهٔ غیبـو آســـاني ده
روئیت دَ اسماعیـــــلؑ مهربـــاني ده

بـن بنا به دَ جمـــــات یا مدرســـې شي
په تعبیر کښې دَ لُوې غم څخه خلاصې شي

① وړومبی سورلي په اس حضرت اسماعیلؑ کړې وه ، دَ دې نه وړاندې اس فقط وحشي ځناور وو -( عُلَمَاءُ النَّسَب )

② اتّخذُوا الخَیل واعتقبوها فَإِنّهَا مِیرَاثُ أبِیکُمْ -
قصصُ الانبیاء - ابن کثیر

فـــراخي دَ رياست يې هُم تعبيـر دے
بـزرګي او سيـاحت يې هُم تعبيـر دے

ازمېښتـــــونه چـــې وي کله دَ بابا نه
نـو تعبيـــر يـې دے خلاصے دَ ابتلا نه

# ( اسهال )

بعضې ورونه دَ شېطـــان وي پهٔ اتلاف کښې (۱)
اموختـــه وي پهٔ لګښت او پهٔ اسـراف کښې

مال تـــوښه لـــويه عطا دَ پــاک سبحان وي
مُعتــــدِل چې لګښت نهٔ وي بيا عصيـــان وي

کهٔ پهٔ خوب کښې درد دَ دست او يا اسهال وي
علامت يـــــې پهٔ مصـــرف دَ عبث مال وي

زيست روزګار پهٔ کفـــايت کښې اعتدال وي (۲)
خـــــــرابات دَ عهد پـــدارو لُوې اضلال وي

---

(۱) اتلاف : بې فائيدې مال صرف کول ـ إنَ الْمُبَذّرِينَ كَانُوا إخْوَانَ الشّيَاطِينِ ـ
الاقْتِصَادُ فِي النَّفَقَةِ نِصْفُ الْمَعِيشَةِ
اعتدال کول پهٔ خرچ خوراک کښې نيم ژوند دے ـ

(۲) اضلال : فساد ـ ( Curroption )





پښتو.نيټ PUKHTO.NET

# ( اشجار ، مېوې او بوټي )

سرسبزي چې مې ځېرځېركړه په اشجاركښې
شادابـي مې شـوه برسېـره په اشعار كښې

نن په ضُرْب چې دَ خوبـونو شـولې خلاصې
فــــوارې دَ تعبيرونــو شـولې خلاصې

يو تعبيـر دَ حـرام خور شـي كۀ يې ګـوري
چې رګــــونه وي دَ وُنــې ښۀ كمـزوري

دَ پوستكــي تعبيــــرونه مال اموال وي ①
ډېــر ښاخونه علامت دَ قـــوّي آل وي

① قوي : مضبوط يعنې چې رېښې يې قوي وي -
آل : نسب يا خاندان -

ډېرې پاڼې علامت دَ خوش طبعۍ وي
په مېوو باندې اطلاق دَ دينداري وي

که مېوه يې بې مزې وي يا خارداره
په تعبير کښې بې دينې ګڼه اشکاره (۱)

دَ پرېوتې شجرې تعبير انجام وي
احتمال يې په مالک به دَ هنګام وي

که په کور کښې دې لېدهٔ ونه وُلاړه
په تعبير کښې مصيبت به شي ترغاړه

چې تعبير درته برے دَ يو دانې شي
نو فائده په اندازه دَ کروندې شي

---

(۱) اشکار : اوښار ـ

سورة إبراهيم آيت : ۲۶،۲۵،۲٤





پښتو.نيټ PUKHTO.NET

بُزرگــــي به په صحبت کښې دَ هغه وي
چې دَ بل په زمکـــــه دغه کــــرونده وي

کۀ ختلے وي څوک پاس دَ وُنــــې ســر ته
کاميابـــــي به يې ښکاره شي بحر و بــر ته

کۀ تۀ پـريوتـې لۀ وُنې ، لاس دې مات شي
نو تعبيــــر يې په نسَب کښــې دَ ممات شي

ماتېدل دَ خپو په خوب کښې ، تْرَبګَنــي وي ①
چې په ماتـــې کښې تالا به يې خانــي وي

کۀ باغـــــونه دې په خوب کښې ملکيّت شي
نـــــو دَ عُمـــــر درازي به دې قسمت شي

① تربګني: دوښمني .

خوب لېدونکے به اخته شي په خفګان کښې
رېـــژېدلے کۀ يې بـــاغ وي په خـــزان کښې

کۀ په خوب کښې درته ونـــې شي ګـــويانه
اولســــونه به دې کار ته شـــي حېـــرانه

هېڅ خلل به يې رانۀ شـي په مرام کښې
چې دَ ونــې لاندې ملاسته وي منام کښې (۱)

نااشنــا ونه کۀ خـوب کښې درښکاره شي
بــــدرګه به دې دَ غم الم ســــواره شي

داسـې ونه خاصيّت چـــې يې معدوم وي (۲)
دغه خوب کښې به خطـــر دَ اور مفهوم وي

---

(۱) منام : خوب۔

(۲) معدوم : بې درکه ، نامعلوم ۔



پښتو.نېټ PUKHTO.NET

اُوچه وُنه پهٔ تعبیــــر کښې بیمـــــاري وي
یا دَ خپل او یا پـْـردي مرګ ناڅاپـــــي وي

دَ مېړو غرونــــو اشجار نُقلـــي اعمال وي
یا راتله به ، بـې ګمــــــانه دَ اموال وي

کهٔ پهٔ تبَــــر څوک وهـــي چـــرته کښې وُنه ①
نـــو وفات به يې شـــي ښځه ، ورانه خُونه

کهٔ تبَـــْـــرونه دَ ستم تېـــــرهٔ ګـــــزار ته
چې شاهانـــــو وي نېـــولي وَ اشجار ته

هــلاکت دَ رعایا وي پهٔ تعبیـــــر کښې ②
چې دستور، آئین عِلّت شي پهٔ تقصیر کښې

---

① رعایا : عوام ، اولس۔

احاطه کړې کۀ وُنو دَ یو غروي
نو باچا دَ داسې ځاې به زورَور وي

دَ آدم وُنه پۀ خوب کښې دَ خېر نۀ وي ①
دَ موسیٰ وُنه قُربت دَ خدائې او دۀ وي

دَ خبیثې شجرې تعبیر ناولے ②
دَ سپېځلي شجرې تعبیر دے ښکلے

کۀ پۀ وُنه کښې مېوه دَ بل شجر وي
پۀ منه کښې کۀ مېوه دَ صنوبر وي ③

نو اطلاق پۀ حرامي بچي به کېږي
یا پېسې به پۀ حرامو حاصلېږي

---

① وَلا تَقْرَبَا هٰذه الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا منَ الظَّالمين (سورة البقرة ۳۵)
فَلَمَّا أَتَاهَا نُودِيَ منْ شَاطِئ الْوَادِ الايْمَنِ في الْبُقْعَةِ الْمُبَارَكَةِ منَ الشَّجَرَةِ
أَنْ يَا مُوسَى إِنِّي أَنَا اللهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ (سورة القصص ۳۰)
② سورة إبراهيم آیت : ۲٦، ۲٥، ۲٤
③ صنوبر : چلغوزي یا جنغوزي ۔



پښتو.نېټ PUKHTO.NET

سفـــرجَل وُنه عاقل وي ، پریشـــان ته ①
خو عاقل چـــې نفع نهٔ بخښـــي وَځـــان ته

دَ بادام وُنه ښـائېسته جینـی پـــارسا وي
دَ انـــــــار وُنــه به ګتهــه او غنـــا وي

اختلاف دَ چا به "بیـــد" وي پهٔ اعدا کښې ②
سُروې وُنه خوش طبعـــي ده پهٔ رویّا کښې

دَ چینـــــار وُنه قـــوّت د خاندان دے
بل تعبیر یې بد اخلاقــه مشر ، خـان دے

پهٔ کهجـــورې به اطلاق دَ عـــالِم کېـــږي ③
پهٔ کېله غنـــي هوښیـــار به تعبیرېـــږي

---

① سفرجل : بهي ، لکه د امرود یا سېو پشان مېوه - ( Quince )
② بید : پخوا به د تبي او دردونو په علاج کښې کارېده - ( Sallow Tree )
③ سورة مریم آیت ١٦ نه ٣٦ پورې -





پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

دَ پښتــــې وُنې تعبيـــــر به دَ سخا وي
دَ کوپـــرې نه به شـــوموالے هويـــدا وي

پهٔ شاتـــوت وُنه ، اطلاق دَ سخي کس وي
چې خوانـــونه يې هـــر چا وَته مُختَص وي

دَ انځـــــر وُنــــې تعبيــــر نافِع رجّال وي (۱)
چې مدد يـــې وَ دښمن ته پهٔ هـــر حال وي

دَ مڼـــې وُنــــې تعبيــــر پهٔ تـــوانگــــر وي
دَ عزت او سلطنت تـــــاويل پهٔ کـــوَر وي

دَ نيمبـــو بـــوټے خو سحر يا جـــادو دے
چې فائـــده يې ده هـــر چاته نو ، آلـو دے

(۱) د انځـر وُنه ليدل اودَ انځر دَ مېوې خوراک ، جُدا جُدا تعبير لري او دغسې دَ نورو وُنو تعبيرونه او دَ هغې دَ مېوې دَ خوراک تعبيرونه به جُدا وي-



پښتو.نېټ PUKHTO.NET

دَ زیتـــــون وُنه ، رجّال به نسَب دار وي
شلتالو به پهٔ تعبیـــر کښې بُـــزرګـــوار وي

دا دَ عود وُنه ښائیسته او خوش الحان وي
دا دَ مرچ بـــوټې شریف او یا سلطـــان وي

دَ حنظل بـــوټې درویش وي ، خو بې دینه (۱)
دَ ګلونـــو وُنـــې ، ټـــولې غوره دینه

---

(۱) حنظل : کاکوړه یا مرغونې چې د ورَم او زخم په علاج کښې به کاریدو ۔
( Colocynthis )

# ( اشعار )

عطرژنـــي فضاګانـــي دَ سحار دي
واوره واوره تعبيـــرونه دَ اشعـار دي

خوش زبانه ، خوش بيانه ، خوش الحان ؤ
عندليب دَ پاک رسول ص دَ ګلستـــان ؤ

محبت چې دَ نبـي ص تـــرېنه ثابت دے
سُخن ور دَ زمانـــې حسـان ثابت رض دے

چې مضمون دَ کـوم يو شعـر ناموزون وي
پهٔ قـرآن کښې به تفسير يې دَ غاوون وي

کهٔ شعرونه څوک پهٔ خوب کښې خرخوينه *
ګـــواهي به دَ دروغـــــو ورکـوينه

* دَ هغهٔ شاعـر دانې ؤشه پهٔ ژبه
چې دَ شعر دُر دانې پلوري پهٔ مال ( خوشحال بابا )

کهٔ غني يې او تهٔ مدحه دَ يو کَس کړې *
پهٔ غربت کښې ځان رسوا به پهٔ اولس کړې

پهٔ هجو باندې اطلاق دَ تُهمت کېږي
چې بهر شي لهٔ سنده تکرارېږي

نور تعبير به دَ معنو پهٔ اعتبار شي
هر سړے دې پهٔ قاعده يې خبردار شي

* نهٔ مې طمع لهٔ چا ده چې مدح گوئ شوې
نهٔ مې چا سره لباس شته نهٔ تيتال

( خوشحال بابا )

# (اصحاب الرسول) صلی الله علیه وسلم

سابقینو صادیقینو کښې صدّیق رض دے
چې فطرت یې لۀ ازله دَ تصدیق دے

دَ "عَشرۃ مُبّشرینو" پۀ کافه کښې (١)
"ابو بکر رض" دے وړومبے پۀ صحابه کښې

دَ صدیق رض لېدۀ پۀ خوب کښې خوشخندانه
دا تعبیر به پۀ خوشئ شي ورعیانه

دَ صدّیق رض لېدۀ پۀ خوب کښې پرېشانه
حرام خور ته به تنبیه وي زما جانه

(١) عَشرۃ مُبّشرین هغه لس صحابه چې پۀ ژوندونې ورته دَ جنت زېرے ورکړے شوے وو۔

پهٔ صدّیقؓ پسې تـــاویل به دَ "عمرؓ" وي
چې دلیل به د تـــاویل یې څهٔ امـــر وي

دَ "احمدؐ" نه پس کهٔ بل چـــرته نبـي وے (١)
مُشـــرف پهٔ نبّـــوت به دے جلـــي وے

څهٔ اوصاف یې دَ انصاف به دربیـــان کړم
څنګه شمـــار به درته ستـــوري دَ اسمان کړم

پهٔ "عَشـــرة مُبّشـــره" کښې هُم "عمرؓ" دے
زمونـــږ دین پرې منـــوّر لکه دَ نمر دے

پهٔ انصاف او عدالت به یـې تـاویل وي
کهٔ منظـــــــوره دَ مولا ربِ جلیل وي

---

(١) لو كَانَ بَعْدِي نَبِيٌ لَكَانَ عُمَرَ بْنَ الخَطَّابِ ـ (ترمذي)
أَنْتَ مِنّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى ، إِلا أَنَّهُ لا نَبِيَ بَعْدِي ـ
(راوه مُسلم و بخاري)

اوس "عثمان(رض)" چې مصاحب دَ محمّد(ص) دے
مُقــرب دَ پــاک احـــد او دَ صمد دے

په سخا کښې بې پايـاوه سمنــــدر ؤ
ذوالنّــورين ؤ ، هم غني هم قلنـــدر ؤ [1]

دغه خوب به دَ علومو دَ مئين وي
داسې خوب نه زيرکتوب به مُبَرْهن وي

اوس به زۀ درته تاويل دَ علي(رض) اوکــړم
په تاويـــل به دې يــې ښۀ تسلي اوکــړم

(1) لانّه تزوّج اثنتين مِن بنات نبي الاسلام محمدؐ، حيث تــزوّج مِن رُقية ثم بَعد وفاتها تزوّج من أم كَلثوم ـ
دَ رسول صلّى الله عَليه وسَلم لۀ دوو لوڼو حضرت رُقّيه الله رضي عنــها او حضرت ام كَلثوم رضي الله عنها سره پۀ پرله پسې ډول دَ نكاح كــولو لۀ امله حضرت عثمان رضي الله عنه ته دَ ذوالنــــورين دوو رڼاوو ( رقيه ،ام كلثوم) خاوند لقب وركړل شوے ـ

شجاعت دے ، کرامت دے ، سرداري ده
دا پۀ امر دَ تاویل احتمالي ده

باقي هر یو صحابي چې خوب کښې وینې
دغه ده خوش نصیبي چې خوب کښې وینې





پښتو.نېټ
PUKHTO.NET

# (اعتکاف)

یو یشتمې نه شمېره شـــي په روژو کښې
یـــوه شپه ده دَ روژې په طاقـــو شپو کښې

دغه شپه چې لټـــــولے شي روژه کښې
په روژه کښې په آخــــــره عشـــره کښې

دَ روا ښځـــــې نه هُم به کـــــوي ډډه ①
مُعتکف نهٔ دے چې پیـــــاز ساتي په بډه

اعتکاف کښې ځان په خوب کهٔ دې لیدلو
دے تعبیــــــر یې دَ ښـــې ښځې دَ موندلو

① دَ اعتکاف کونکې دَ پاره بې ضروره هر کار منع دے ، تر دې چې دَ جنازې مونځ ، دَ رنځور پوښتنه یا عیادت ، او مباشرت وغېره هم منع دي.
(سنن ابی داود حدیث)
وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنْتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ (سورة البقرة ۱۸۷)



پښتو.نېټ PUKHTO.NET

اعتکاف کۀ دَ منـــــــدر او کلیســـــې وي
پۀ تعبیـــر کښې ســــروکار دَ فاحشـــې وي

معیشت دَ حـــرصناک وي پۀ زمـــــان کښې
مُعتکف کۀ څَوک وي ناست پۀ یومکان کښې

## ( اعداد یا هندسې )

جفت او طاق دي دَ اعدادو په سرخط کښې
تعبیـــرونه درتـــه ږدمه قـط په قـط کښې

کۀ وړومبے عـــدد په خلۀ او یا نظـــروي ①
پۀ اعدادو کښې وړومبے عدد بهتـــروي

ناګهانـــه کۀ لښکــــر دَ دښمن را شــــي ②
دَ دوهَـــم عدد تعبیـــر به ګټــــه دا شـــي

① مَن جَاء بِالحَسَنَةِ فَلَهُ عَشرُ أمثَالِهَا - (سورة الانعام - الاية ١٦٠)
اول - الله (سورة ص - الاية ٦٥ / سورة زمر - الاية ٤ / سورة مومن - الاية ١٦ وغيره)

② إذْ أخرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إذْ هُمَا فِي الْغَارِ إذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لا تَحْزَنْ إنَّ اللهَ مَعَنَا -
کله چې راوویست دے (لۀ مکې) هغو کسانو چې کافران شوي وو، حال دا چې دے دوهم د دوو ؤ، کله چې دوي دواړه پۀ غار کښې وو کله چې اوویل (محمدﷺ) ملګري خپل (ابو بکر صدیقؓ) ته، مۀ خفه کېږه بېشکه چې الله لۀ مونږ سره دے - (سورة توبة - الاية ٤٠)



پښتو.نېټ PUKHTO.NET

درېم عـــدد به جدايـــي او يا اقــرار وي
يا دَ شِرک پهٔ حصارونـــو کښې حصار وي ①

"څلورم" عدد کهٔ خوب کښې نُمايان شـــي
نو تعبيـر به يې حُجت او يا بُـرهان شـــي ②

دَ "پينځم" او دَ "شپږم" تعبيـر به څهٔ وي ؟
بد عملــه لهٔ به بد ، او نېک لهٔ ښهٔ وي



① لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا اِنَّ الله ثَالِثُ ثَلاثَةٍ (سورة المآئدة ٣٢)
خامخا پهٔ تحقيق کافران شوي دي هغه کسان چې وايي دوي بېشکه الله درېم لهٔ دريو معبودانو څخه دے۔
شعر : د بدبختو شرې جوړه وي لهٔ وړيو تکو تورو
نهٔ سپينېږي دَ زمزمو او کوثرو پهٔ اوبـو هُم
مثل : لَنْ يُصْلِحَ العَطَارُ مَا أَفْسَدَهُ الدَّهْرُ
② وَاللاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِن نِّسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِّنكُمْ (النساء ١٥)
هغه زنانه چې راتلل اوکړي کار دَ بې حيايۍ ته ، دَ زنانو ستاسو نه نو ګواهان طلب کړئ پهٔ دُوې ، څلور دَ تاسو نه ( مِنكُم کښې خطاب رِجال ته دے ) -
( روح المعاني - تفسير الالوسيؒ )
- فَسِيحُوا فِي الارْضِ ارْبَعَةَ أَشْهُرٍ - ( سورة التوبة ٢ )
اوګرځئ پهٔ زمکه کښې ( مشرکانو ) څلور مياشتې يا اسلام راوړئ يا جنګ لهٔ تيار شئ ( څلور مياشتې مهلت ) -
- د حرمت څلور مياشتې : ذو القعده ، ذو الحجه ، المحرم و رجب ( سورة التوبة ٣٦ )

دَ " اووَم ، اتم ، نهـم " خوبـــــــونه واړه ①
پهٔ بدیٔ کښې دَ خپل ســـر خېرونه غواړه

چې پلـــونه يـــې پهٔ لاره دَ وحدت وي ②
دَ " لسم " عدد تعبيـــر به پهٔ نُصرت وي

څهٔ کارونـــه دَ ژونـــد ژواک واړه ظهور شه ③
پهٔ تعبيـــر کښې دَ " يوُولسو " مسرور شه

① سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَانِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا ( سورة الحاقة ٧ ) -
مقرر کړې ؤ ( الله ) دا باد پهٔ دوي (عاد) باندې اووه شپې او اته ورځې متواتر پرله پسې (دَ عذاب) -

- وَقَالَ الْمَلِكُ إِنِّي أَرَى سَبْعَ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ - دَ مصر د باچا ريان بن وليد خوب - ( سورة يوسف ٤٣ )
- وكَانَ فِي الْمَدِينَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُفْسِدُونَ فِي الارْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ - ( سورة النمل ٤٨ )

او پهٔ ښار د (ثموديانو) کښې نهه سړي ( شرير ) چې فســاد به يې کاوه پهٔ زمکه ( د حجر ) کښې او نهٔ به يې کوله اصلاح -

② تلكَ عَشَرَةٌ كَاملَةٌ -( سورة البقرة ١٩٦ )
دَ حج تَمَتُّع يا قِران مسئله او د دم شکر پهٔ بدل کښې د لسو روژو مسئله لکه د عرفې د ورځې پورې درې روژې او اووه روژې د حج د فــراغت نه پس ، نو دا لس روژې شوې، پوره -

- نيکي يو پهٔ لس ( سورة الانعام ١٦٠ )

③ د يوسف عليه السلام خوب او يوولس ستوري ( سورة يوسف ٤ )



پښتو.نېټ PUKHTO.NET

قمَـري مياشتـې دي دولس په اسلام کښې ①
" دولسَم " عــــدد هُم ښهٔ دے په مَنــام کښې

رقمــــــي به کېفيت دَ " ديارلسَم " کــړم ②
په مرام کښې به تاخيـر يې زهٔ رقم کــړم

ســر انجام دَ " څوارلسَم " به په نېکو شــي
" پينځلسَم " عدد تعبيــر دَ پــرېشانو شــي ③

کهٔ دې خــر دَ اسباب ګډ چــرته معطَل شي
دغه کــار به دې په " شپـاړس " مُعَجّل شي ④

---

① إنّ عِدّةَ الشُهُورِ عِندَ اللهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا - سورة التوبة

② د نبوّت نه پس د مُحمد ص ديارلس کاله مکّې دعوت او بيا په ديــارلسم کال هجرت ،بيا د هجرت په وخت سورة مُحمد کښې دا ديارلسم آيت را نازلېدل وكَأيّنْ مِنْ قَرْيَةٍ هِيَ أشَدُ قُوَةً مِنْ قَرْيَتِكَ الَتِي أخْرَجَتْكَ -(سورة محمّد ١٣ )

د يوسف عليه السلام خوب (سورة يوسف ٤ )

③ الخَامِسُ عَشَرَ فَإنَهُ عَدَمُ تَمَامِ الْمَقصُوْد ( تفسير الاحلام ـ ابن سيرين رح )

④ السَادِسُ عَشَرَ فَإنَهُ يَدُلُ عَلى حُصُولِ مُرَادِ بِطُولِ الْمُدَة
( تفسير الاحلام ـ ابن سيرين رح )



پښتو.نېټ PUKHTO.NET

غم به ستا دَ خوب تعبیر شي پهٔ " أوولس"
ستا مُـــراد ته به خُســران شي پهٔ " اتلس"

دنیا نولس ده ، او" نولس" محتاجـــي ده
دَ" شلم" تاویـــل بـــرے او ســرلـوړي ده (۱)

دَ ګـــــردون پهٔ کجو لارو کهٔ باقـــي شي
پهٔ " دېرشتم" به لهٔ یو چا اِفتـراقي شي (۲)

خدائې به ستا پهٔ هر یوکار کښې رهنُما شي
پهٔ "څلوېښتو" کښې مقصد دَ بـن بِنا شي

(۱) اِنْ یَکُنْ مِنکُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ یَغْلِبُوا مِائَتَیْنِ - ( سورة الانفال ٦٥ )
کهٔ چرې وي پهٔ تاسو کښې شل تنه صابران نو غالب به راځي پهٔ دوو سوو ( کافرانو ) -

(۲) وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلاثُونَ شَهْرًا - ( سورة الاحقاف ١٥ )
د شپږو میاشتو ربړونه او تکلیفونه تر زېږون پورې او بیا د رضاع دوه کاله تر فصاله پورې صعبتونه مور پهٔ ځان اخلي نو کُل دېرشت میاشتې شوې ،ځکه د حمل اول درې میاشتو پورې دروندوالې نهٔ معلومېږي-

دلګیـــــــري یې په سبب دَ غم الم شي
په سختی کښې به تعبیر د "پنځوستم" شي

په "شپېته" کښې به تنبیه دَ څهٔ خُسران وي ①
کفـــــاره به دَ قسم یا دَ رمضـــــان وي

دَ "اویاوو" په تعبیـر کښې به جنجال وي ②
کشـــــالې کهٔ دي په وُلــو دَ افعــال وي

دَ "اتیاوو" په تعبیـر کښې به الـزام وي ③
ســـزاوار به یا دَ دیـــــن په څهٔ احکام وي

① کفارة الظهار

② ثُمَّ فِي سِلسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوهُ - (سورة الحاقة ٣٢)
اویا ګز ځنځیر د دوزخ -

❖ إِن تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَن يَغْفِرَ اللهُ لَهُمْ - (سورة التوبة ٨٠)
د دې آیت لهٔ نزوله وروسته بیا رسول اللهﷺ د هیڅ یو منافق جنازه ادا نهٔ کړه او د نور تفصیل د پاره د دغې آیت تفسیر اوګورئ.

③ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً - (سورة النور ٤)
دې آیت کښې د (قاذف) تُهمت لګونکي سزا اتیا درې ده او د تل د پاره پهٔ معملاتو کښې مردود الشّهادات به وي اګر کهٔ توبه اوباسي نو هُم -

دَ " لس کم سلو " تعبیر دَ کور مِصباح وي [1]
پهٔ غتمـــانو کښې به زېـــرے د نکاح وي

چې پهٔ "سلو" یې تعبیـر دَ اعداد تم شو [2]
دَ خیـــــام نُصرت پهٔ دغه کښې رقم شو



(۱) لَهُ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ نَعْجَةً وَلِيَ نَعْجَةٌ وَاحِدَةٌ فَقَالَ أَكْفِلْنِيهَا وَعَزَّنِي فِي الْخِطَابِ -( سورة ص ۲۳ )
د دوو وروڼو واقع ـ
مصباح : ډېوه ـ

(۲) مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُـونَ أَمْوَالَهُمْ فِـي سَبِيلِ اللهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِائَةُ حَبَّةٍ - ( سورة البقرة ۲٦۱ )
مثال د هغو کسانو چې صرفـوي مالونه خپل پهٔ لاره دَ الله کښې پهٔ مثل د يو دانې دے، چې زرغونه کړي دا دانه اوه وږي ، پهٔ هر يو وږي کښې سل دانې وي ـ

# (اعُوذُ بِاللّٰه)

چـــې اوبهٔ ځرنګـــې نخښه دَ حيات وي
شېطان دغســـې ماده دَ فســـادات وي

دَ شېطـــان لهٔ وسوسو نه كهٔ آګاه شې
باقـــي عُمر پهٔ تعّوذ كښې به لګيـا شې

استغـــراق د بېـــزاري پهٔ تلّذُذ كښې [1]
ما مونْدلـــي التجا پهٔ تعّوذ كښې

چې كثـــرت دَ تعّوذ وي پهٔ منـــام كښې
داســې خوب بهتـــر ګڼه پهٔ استحكام كښې

[1] وَاِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ -
(سورة الاعراف ۲۰۰)
او كهٔ باعث او تېز كړي تا (پهٔ معصيت) لهٔ طرفه د شيطان كومه وسوسه
نو پناه اوغواړه دَ الله نه -

پهٔ خوبونـــــو کښې چې څوک استعاذه کا
وي تعبيــر يې داســــې عِلَم چې فائـده کا

که پهٔ خوب کښې دَ تعوّذ اوکــړي ذکـرونه
شـــي پهٔ ډډه به لهٔ دهٔ فتنـــې شــرونه

او کهٔ خـوب کښې مُضطرب سړے دا وايـي
نو سکـــون او اطمينـــان يې تعبيــر ښايـي

که پهٔ خوب کښې دَ رنځور په خلهٔ جاري شـي
نـــو لهٔ دهٔ نـه به زر لرې بيمـــاري شـي

که پهٔ خوب کښې پرې فاسق سړے ګويا شي
نـــو تَغِيـــر به يــې عمل کښې را پيدا شي





پښتو.نيټ PUKHTO.NET

## ( اِغلام ) *

دَ نر خُورو پهٔ یـــاری کښې گـــرفتار یو
مونږه خلق څهٔ سپېره یو ، خـــوار و زار یو

هلک هـــر څنګه کهٔ وي خو مستور نهٔ وي
پهٔ هلک کښـــې صفتـــونه دَ حُور نهٔ وي

تغّیُـــر یا خو پهٔ ځـــان کښې راوستل دي ①
ګنـــې دا خو عذابـــــونه رابلل دي

چې موذون مې پهٔ تعبیر کښې دا کلام کړو
پهٔ لُغاتـــو کښې مې غوره نوم اِغلام کړو

تعبیـــرونه دَ اغـــلام به مُعتبَـــر وي
چې خوبـــونه دَ شهـوت نه بالا تـــر وي

* اغلام : لواط -
① سورة الحجر آیت ٦١ نه ٧٧ پورې اوګورئ -

احتلام چې شـــي واقع نو خوب باطِل شـي
پهٔ القا دَ شېطانـــــانو کښـې شامِل شـي

ما سپـــوا دَ شېطانــــي نه ، مصلحت وي
پهٔ تعبيـر کښې دانايــــي او څهٔ حکمت وي

پهٔ قاعده کښـې دَ تعبيــر يې نشته شخـــړه
دَ فاعـــل نه وي مفعـول وَ ته ښېګـــړه





پښتو.نېټ
PUKHTO.NET

# ( آفتاب یا نمر )

چې دَ نمـــر په رڼــــا ګانـــو مُنور شي
مُقـــرب به دَ هېـــواد دَ ملـوک زر شي

دَ آفتاب تاویل په پلار هم جابرؒ وېستے
کۀ تاویل چا دَ یوسفؑ دَ خوب وي لوستے ①

کۀ سجده چرته کښې کړه چا وَ آفتاب ته ②
معصیت به یې لاهـو کـړي وَ دریاب ته



① إِذْ قَالَ يُـوسُفُ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَـشَرَ كَوكَبًا وَالشَّمْسَ وَالْقَـمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِي سَاجِدِينَ (سورة یوسف)
هغه وخت چې اوویـل یوسف خپل پـلار ته ، اے زما پـلاره ، بېشکه ما اولېدل ( په خوب کښې ) یوولس ستوري ، او نمر ، او سپوږمۍ اولېدل ما ، چې ماته سجده کوي ـ

② فَلَمَّا رَأَى الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هٰذَا رَبِّي هٰذَا أَكْبَرُ فَلَمَّا أَفَلَتْ قَالَ يَا قَـوْمِ إِنِّي بَرِيءٌ مِمَّا تُشْرِكُونَ ( سورة الانعام ۷۸ ) -

# ( افسون )

چې دَ شرک ټکـي دَ هـر جادو بُنیاد وي
وِرد دَ دغـې منترونـو بیا الحـــاد وي

دَ کاهینـــو او دم ګـرو نه ګرېـــز کړه
دَ جادو نه او دَ کـــوډګو نه پرهېـــز کړه

چې په دیــن دَ محمد(ص) یې مشروع کېـږي (۱)
ساحــران چې تــوبه نۀ کا نـو قتلېــږي

په افسون باندې چې کوم زیانونه کېــږي
په آیــات باندې په نفع کښې بدلېـــږي

(۱) ساحرو ،کوډګرو ،کاهینانو ،پال بینو او غېب ویونکو ته ورتلل شرعاً حرام دي ـ په دې اړه په احادیثو کښې سخت وعیدونه ذکر شوي دي ـ

( جاري په بل مخ )



پښتو.نیټ PUKHTO.NET

* مَن أتَي عرّافاً فَسَألهُ عَن شَئٍ فَصَدّقهُ لم تُقبَل لهُ صَلاة أربَعِينَ يَوماً -

ژباړه : څوک چې عرافی ( هغهٔ څوک چې غلا شوي مال معلوموي او يا دَ غيبو دعویٰ کوي ) ته ورشي او دَ يو شي په اړه لهٔ هغه څخه پُوښتنه اوکړي او هغه رښتيا اوبولي نو دَ تيوس کونکي دَ څلويښتو ورځـو دَ پاره مونځ نهٔ قبلېږي - ( رواه مسلم )

* مَن أتَي کاهناً فَصَدّقهَ بمَا يَقُولُ فقَد کفرَ بمَا أنزلَ عَلَي مُحَمّدٍ صَلي الله عَلَيه وَ سَلَمَ - ( ابو داؤد ، ترمذي وابن ماجه )

ژباړه : هر څوک چې فالگر ( هغه کس چې دَ علم غيب دعویٰ کوي ) ته ورشي او دَ هغه خبرې رښتيا اوګڼي ،نو داکس پهٔ هغهٔ څهٔ کافر شو کوم چې پهٔ مُحمّد صلی الله عليه وسلم نازل شوي -

* دَ حضرت عمرؓ ، حضرت عثمانؓ ، حضرت ابن عمرؓ ، حضرت حفصهؓ حضرت ابو موسیٰؓ ، حضرت قيسؓ بن سعد او ورسره دَ اووه تابعينـو نه دَ جادوګر قتل مروي دي -

دَ نور تفصيل دَ پاره اوګورئ تفسير الجامع الاحکام القرآن دَ امام ابو عبد الله محمد بن احمد بن ابو بکر قرطبیؒ سورة بقرة آيت ۱۰۲ -





پښتو.نېټ PUKHTO.NET

ربّانـــــي اذکار نافــع دَ رب ماثــور دي ①
پهٔ قــرآن او احاديثـــو کښې مذکور دي

دغه وضع پهٔ تعبيــر کښــې دَ افســون ده
په تحريــر کښې سيــاهي دَ ځيګر خــون ده

کهٔ دمونه ربّانـــــي وي نـــــو عطا ده
پهٔ نهـــاد کښې يې تعبيــر بــو يه شفا ده ②

① ماثور : اثر لرونکے ۔
② نهاد : مزاج ، فطرت يا طبيعت ۔
وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِين
(سورة الاسراء ۸۲)



پښتو.نیټ PUKHTO.NET

# ( افیم )

دا سې خواب به دَ رنځونـــو دَ غلیم وي
چې نشه پکښې چا کړې دَ " افیم " وي

هر تعبیـــــر به دَ اصولـــو په احکام وي
په اجمال کښې احکامونه به تمـــام وي

# ( اګۍ - هګۍ - ها )

پهٔ سـارق او کفن کښ به نمـوده شي
چې پـوستکے دَ اګـۍ سره خـورده شي

کهٔ پخه اګۍ پهٔ خوب کښې دې خواړه شي
نـو پهٔ مـال د مُشقّت خـونه ماړه شي

نهٔ يې خوب ، نهٔ يې راحت او نهٔ آرام وي
نيم پخته اګـۍ خوړل ،دولت حـرام وي

احتمـال يې پهٔ تعبيـر کښې دَ سره زر وي
چې به زيـړ دَ اګۍ ګـوري بختـور وي

پهٔ تعبير کښې د" ها" سپين هم نفع ګر وي
پهٔ معنیٰ کښې احتمـال دَ سپينو زر وي

اچولې کۀ دې کـړوکې چرګـې ها وي
نو تعبيـــر به يې اولاد مـال و متاع وي

دَ بِکَــــرې بِکارت به پاتـــې نۀ شي
چې دَ ماتــې ، بهېدلـــي ها لېدۀ شي





پښتو.نیټ PUKHTO.NET

# (الله) جلّ جلالهٗ

پهٔ سکوت کښې یــوه چغه بــر ملا یم
گــردن خم پهٔ ارتفـــاع کښې دَ الله یم

پهٔ الف ســره الله دے چــې بـرحق دے
پهٔ کثرت کښې دَ نورونــو یې یو پړق دے

کائنات کښې دوه اِلٰهٔ نهٔ شــي کېدلے
احـــــاطه دَ یو اللّٰه نهٔ شــي کېدلے ①

اسم ذات ، اسمِ علَم دَ رب الله دے
ســــرچینه دَ توفیقــــي اسماءُ دا دے ②*

① لا تُدْرِكُهُ الاَبْصَار (سورة الانعام ۱۰۲)

② هغه اسماءُ الحُسنیٰ کوم چې دَ قــرآن او احادیث نه ثابت دي او کـوم چې د علماءُ پهٔ اجماع ثابت دي هغې ته توفیقیة وایــي ، نور نــومونه او اسماء چې پهٔ هغې کښې دَ الله تعظیم وي نو استعمال یې جایز دے مګر اسماءُ الحُسنیٰ به ورته نهٔ شي وئیلے مثلاً لفظ خدا وغېره ـ

* نوم دَ الله دلالت کوي پهٔ تمام اسماءُ الحسنیٰ ـ

توقيفـــي واړه نومونه ټـــول صفات دي
بوقلمـون په دوه انــواع دَ رب دَ ذات دي

په يـو نـوع کښې صفتـــونه صَلْبية دي ①
په دويَـم کښې يــې صفات ثبــوتية دي

په دعا دَ "اشعــري" او يا په "هو" کښې ②
چــرته شته اسمِ اعظم په يــو پهلو کښې

په يــو قول کښې دَ "اسما" دوه آيتين دي ③
په عمران او په بَقره کښې مذکورين دي

① صلبية: دا سې صفاتي نومونه چې دَ مُشرکانو دَ خبرو او عقايدو نفي کوي۔
او ثبوتية هغه صفاتي نومونه چې دَ الله صفت ثابتوي ۔
تفصيل اوګورئ شرح العقيدة الطحاوية ۔ شيخ محمد ابن أبي العز الحنفي الاذرعي الصالحي الدمشقيؒ۔
② أبو موسیٰ الاشعريؓ.
هو چې ضمير يې الله ته راجع وي ۔
③ خطيبة النساء ۔ أسماء بنت يزيدؓ ۔

## يا دُعا دَ حُوْت پهٔ نَس کښې دَ ذوالنّون ده
## چې دَ څوارلسو اقوالو نه بېرون ده ①



① دَ اسمِ اعظم په لړ کښې څوارلس اقوال دَ حافظ ابن حجرؒ پهٔ کتاب" فتح الباري" کښې مذکور دي چې دلته یې کشيد کول ضروري ګڼم -

١- هُو . (چې ضمير يې راجع وي الله ته)
٢- الله .
٣- الله الرَحمٰن الرَحيم .
٤- الرَحمٰن الرَحيم الحَيُ القَيُوم .
٥- الحَيُ القيَوم .
٦- الحنّانُ المنّانُ بديعُ السّماوات والارضِ ذَو الجَلال والاِكرام الحَيُ القَيوم .
٧- بَديعُ السماوات والارضِ ذُو الجلالِ والاِكرام .
٨- ذَو الجَلال والاكرام .
٩- الله لا إلهَ إلا هُوَ الاحَدُ الصَمَدُ الذي لَم يَلدْ ولَمْ يُولَد ولَم يَكُنْ لَهُ كفُواً أحَد .
١٠- رب ربِ . أخرجه الحاكم من حديث أبي الدرداء وابن عباس بلفظ اسم الله الاكبر رب ربِ ، وأخرج ابن أبي الدنيا عن عائشة إذا قال العبد: يا ربِ يا ربِ قال الله تعالى لبيك عبدي سل تعط .
١١-دعوة ذي النّون في بَطن الحُوت :
لا إله إلا أنتَ سبُحَانَك إنّي كُنت من الظالمين .
١٢-هُو الله ، الله ، الله الذي لا إله إلا هُو رب العَرش العظيم .
١٣-هو مَخفي في الاسماء الحُسنىٰ .
١٤-كلمة التّوحيد: لا إله إلا الله .

(فتح الباري بشرح صحيح بخاري حافظ احمد بن علي بن حجر العسقلانيؒ )
څوارلسم جلد - كتاب الدعوات مخ ٤٨٢ باب ٦٨
دار طيبة للنشر والتوزيع رياض ( ١٤٢٦-٢٠٠٥ )



پښتو.نیټ PUKHTO.NET

که پۀ خوب کښې دَ "الله" لیدۀ بېچون وي ①
نو ملحوظ ، دَ زمانــې ولي مفتــون وي

دغه زېـرے پۀ مؤمن دَ خــوشحالۍ دے
داســې خوب دَ مغفــرت او سلامۍ دے

امامــــــان پۀ دې دلیل دَ قــران ښایــي
وَقَرَّبْنَـــاهُ نَجِيًّا مونــــــــږ ته وایــي ②

داسې چې وي ترڅو پورې پۀ زیست کښې
دا سړے به وي ترهغې پۀ ازمېښت کښې

① بېچون یعنې کۀ چا رب العالمین پۀ خوب کښې پۀ داسې طریقه اولیده چې
② رب دَ هغې نه پاک او مُنَزه وي او دَ لیدونکي هم دا عقېده وي چې زما رب
دَ جسم و صورت نه پاک دے یعنې بې مثاله۔
لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ۔ سورة الشورىٰ ۔
(نشته دے هیڅ مثال په شان د الله)

دَ محبــوس دَ پـــاره زېرے دَ نجات دے
سرګوشـي دَ خدائې سره، کۀ ملاقات دے

دَ مريض پۀ حال دَ رنــځ کښې ، انتقال دے
مرګے حق دے او حـق نـوم دَ ذوالجلال دے

دَ مظلــوم تعبيــر ويستلے پۀ بُرات شي
غلبه کښـــې دَ ظالم اورمېـــږ به مات شي

کۀ پــرده چــرته مابينــو کښې حايل وي
نــو ملحوظ به ګنـــاهونـــو ته مايل وي

سُرخرويـــــي پۀ آخـــرت پس لۀ ممَـــاته
چې نظـــر يې دَ کـــرَم ؤشــــي وَ چاته

دَ غضب يـې هُم تعبيــر دے مستخـــرابه
لا يعقل به وېـــره نۀ کــــړي لۀ عذابه





پښتو.نېټ
PUKHTO.NET

ناراضګي دَ خدائې ناراضه مور او پلار وي ①
پۀ طاعت دَ مور او پلار خاطـــر قـــرار وي

کۀ دَ رب د ذات تمثیل پۀ خوب کښې را شي ②
بې تعبیـــره د اســـې خوب به پۀ معنیٰ شي



① رِضَا اللهِ فِي رِضَا الْوَالِدَيْنِ، وَسَخَطُ اللهِ فِي سَخَطِ الْوَالِدَيْنِ۔
(أَخْرَجَهُ التِّرْمِذِي، وَصَحَّحَهُ ابْنُ حِبَّانَ وَالْحَاكِمُ)
② لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ۔ سورة الشوریٰ۔
(نشته دے هیڅ مثال په شان د الله)

# ( الوت او آسمان )

کهٔ "الوت" لکه مرغۍ کړې پهٔ آسمان کښې [1]
نو تـــاويل به دَ سفـــر وي پهٔ بيان کښې

دا سفـــــر به دَ نعمت او فـــــراغت وي
بـې محنته به مونده‌لے چا راحت وي

دَ "الوت" خو تعبيـــرونه بلها دېـــر دي
تعبيـــــرونه څهٔ دَ شر او څهٔ دَ خيـــر دي

دَ "وړومبي آسمـــان" تاويل به پهٔ رحلت وي
دَ وړومبي آسمـــان پهٔ لوري کهٔ "الوت" وي

---

(١) فَإِنَّ ذٰلِكَ يَدُلُّ عَلىٰ سَفَرٍ وَعَلىٰ الرَّجْعَةِ مِنَ السَّفَرِ ۔
( تفسير الاحلام ۔ ابن سيرينؒ )





پښتو.نيټ
PUKHTO.NET

پهٔ "دوهَم آسمان" کښې ځان لېدهٔ علوم دي ①
پهٔ "وصول" کتاب کښې دغسې مرقــوم دي

دا د "درېم آسمان" تعبير سُرور او مال دے
احتمــال پهٔ سيم و زر ، پهٔ دُر و لعل دے

"څلــــورم آسمـــــان" ته تله کهٔ پهٔ سُرعت وي ②
نو تعبيـــــر يې دَ املاکـــــــو پهٔ قُربت وي

دَ "پنځم آسمـــــان" تاويل به بَــــر خلاف وي ③
پهٔ تعبيـــر کښې يې جنګــــونه او مَصاف وي

دَ "شپـــږم آسمــــان" تاويل پهٔ شادمانۍ دے
دا تـــــاويل يې پهٔ دولت او پهٔ نېکۍ دے

---

① وَالسَمَاءُ الثَانِيَةُ أدَبٌ وَعِلمٌ ۔
② وَمَنْ رَأىٰ أنَهُ فِي السَمَاءِ الرَابِعَة نَالَ مُلكاً وَسُلطةً وَهَيْبَةً ۔
③ وَمَنْ رَأىٰ أنَهُ فِي السَماءِ الخَامسَة نَالَ وِلايَةَ الشَرْطةِ أو قِتَالاً ۔
( تفسير الاحلام - ابن سيرينؒ )
مصاف : جنګ ، جدل يا مبارزه ۔



پښتو.نېټ
PUKHTO.NET

خاتمه دَ نېک سري پهٔ خېريّت ده (١)
دَ "اووَم آسمان" معنیٰ دَ اَرفَعِيّت ده

کهٔ فلک څوک لهٔ "آسمانه" را ګزار کړي
نو تعبير به يې پهٔ رنځ کښې ګرفتار کړي

نصيحت کهٔ دې اخيستے لهٔ قارون وي
دَ بخيلو دَ الوت تعبير زبون وي (٢)

دَ هدف غشي رسا وي پهٔ ملکونو
چې پرواز کړه څوک پهٔ غرونو پهٔ راغونو

دَ مرګي لُومه کښې ګير لکه مارغهٔ شي
چې فضا پله وي تْلهٔ او نهٔ راتلهٔ شي

(١) اذا رَأىٰ اَلسَّمَاءَ اَلسَّابِعَةَ فإِنَّهُ يَنَالُ رِفعَةً عَظِيْمَةً وَلٰكِنَّهُ يَهلَكُ -
( تفسير الاحلام - ابن سيرينؒ )
(٢) زبون : مُحقّر ، خوار يا مطرود -





پښتو.نیټ PUKHTO.NET

پهٔ بدتـــــره لهٔ خوب تــــره فوقیّت شي
چې دَ ښهٔ ځاې نه قبیــــح وَته الوت شي

که پهٔ بیا بیا څـوک پهٔ خوب کښې الـواتهٔ کا
دَ خواهش پهٔ ګنـــده تار به ځان ګیندهٔ کا

دلالت یې پهٔ تعبیــــر کښې بیا دَ شــــروي
پهٔ الوت کښې کهٔ پښـــې بره لاندې ســروي

دَ غلام تېښته دَ کــــــور لهٔ روښن دانـــــه
بګــــــوړا به دې غلام شي لهٔ مکــــــانه

کهٔ بــــاران دَ کاڼـــــو وُشـــــي لهٔ فلکه
احتمـــــــال به دَ عذاب وي دا پهٔ زمکه (١)

(١) فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِن سِجِّيلٍ مَنضُودٍ -
( سورة هود )





پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

دروازې کهٔ چرې بېرته دَ آسمان وي
پهٔ تر تر به سلسلې بيا دَ باران وي

چې ليدلے دې خپل سر دے تر فلکه ①
ارتِفاع يې شي تعبير بابا خټکه !

احتمال دَ "خېر کثير" دے پهٔ دقّت کښې ②
دَ ازاد وطن بېرغ پهٔ لاس الوت کښې

① ما خپل سر تر فلک اوليده پهٔ خوب کښې
دَ دې خوب مې مُعَبره کوم تعبير دے؟

( خوشحال خان خټک )

② دَ خپل ازاد وطن بېرغ مې پهٔ لاس
ستورو ، سپوږمۍ نه هم پهٔ بره تلمه
دَ دغه خوب راله تعبير اوباسۍ

( شيرين يار يوسفزے )





پښتو.نېټ PUKHTO.NET

# (الوچې)

په اثمارو کښې شفا ایښې یزدان ده
هر ثمر لویه عطا دَ پاک سبُحان ده

پرورده که په زمن کښې الوچه شي
په رګونو کښې چلن دَ خون رفته شي

بینایي ، قبض په دې هم درُستېږي
په دمه کښې پرې علاج دَ دمې کېږي

یو مثال دَ عربۍ دے چې کنداس وي ①
دَ هغوئ په نصیبونو کښې اِجاص وي

① اِجاص یا برقوق الوچې ته وایي -
مثل : اللّٰهُ یُطعِمِ الاجَاصَ لِمَنْ لَیْسَ لَهُ أضرَاسٌ



پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

که په خوب کښې دې لېدلې الــوچې وي
نو تعبیر یې په موسم کښې خوشحالې وي

بشــــــارتِ الٰهـــــي به دې مدد کا
یا تعبیـــــر به یې دَ وُرکـــې په آمد کا

دَ رنځور دَ پـاره داسـې خوب دَ خېر دے
بې موسمه الـــوچه زهـــر ګنړېږي دے

# ( الوداع )

دَ یــــو حال نه چې بل حال ته انتقـــال وي
پهٔ وداع کښـــې علامې دَ وروسته حال وي

چـې لبرېز دَ درد پهٔ مې دَ رنځ مینـا شي
دَ رنځـــور وداع رحلت او یا شفـا شي

یا دَ بـــدحال نـه بـه ، ښهٔ وَتـــه راتلهٔ وي
یا پهٔ وصل کښـــې به راز دَ بېلتـــانهٔ وي

یا رجـــوع او یا طلاق وي پهٔ زمـــان کښې
یا عهده وي یا معزول شـــي پهٔ جهان کښې

علیٰ هذهِ القیـــاس چې دي خـــوبـــونه
مُنتقل شـــــي پهٔ تعبیـــــر کښې حالتونه

---

شعر : اذَا رَاَیْتَ الْوَدَاعَ فَاَبْشِرْ | وَانْتَظِرِ الْعَوْدَ عَنْ قَرِیْبٍ
وَلَا یَهُمَّنَکَ الْبِعَـــادْ | فَاِنَّ قَلْبَ الْوَدَاعِ عَـادُوا

پهٔ تعبیر کښې دا توجیهات به مُعتبر وي لکه دَ وداع اپوټه عادو دے او پهٔ عربی کښې عاد راتلو ته وایي لکه عادَ الرَّجُل -

# ( امامت )

مُقتدا دَ مقتـــدي هـر يـــو امام وي
تعبيـــرونه به اِنشـــاء يې په اکرام وي

امامت کۀ چرته ستا په خاص و عام وي ①
سرداري به دې تعبيـــر دَ دې منـام وي

مګر دا امامتـــي کۀ په قعـــود وي
نو تعبير به ستا دَ خوب په رنځ آلـود وي

کۀ ليدلے دې امام دَ کـــوم جمات وي
احتمـال په داسې خوب دَ مرتبـات وي

① فإنْ كَانَ الْقَوْمُ جَعَلُوه إمَاماً ، فإنَّه يَرِثُ مِيْراثاً
لِقُوْلُهُ تَعَالٰى ، وَنَجَعَلَهُمْ أئمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ
( تفسير الاحلام ـ ابن سيرينؒ )

کۀ" امام" چـــرته کښــې تۀ دَ ښځینـــوو یې ①
نو ســــــردار به دَ ضعیفـــــو نارینـــوو یې

" امامت" پۀ مـــرد و زن کا مُشَکّل کـــړه ②
داســې خوب پۀ مشــرۍ ، صلح بدل کـــړه

" امامت" کۀ دې پۀ چت او یا بلـــــۍ وي
علامت یې پۀ تشهیـــر ستا دَ نېکـــۍ وي

ســـرچینه به دې پۀ خلکـــو کښې بدعت وي
" امامت" کۀ بــې قِبـــــله او بـــې سِمّت وي ③



① فإنْ رأىٰ أنَهُ يُصَلّي بِالنّسَاء فإنَهُ يَلي أمُورَ قُوْمٍ ضِعَاف ۔
( تفسیر الاحلام ۔ ابن سیرینؒ )
② مُشکّل : رنګه رنګ ۔ هر قسمه ۔
③ وَإنْ كَانَ قَدْ صَلّى بِالنّاسِ إلىٰ غيْرِ الْقِبْلَةِ خَانَ أصْحَابَهُ وَابْتَاعَ بِدْعَه ۔
( تفسیر الاحلام ۔ ابن سیرینؒ )
سِمّت : طرف ، اړخ

کۀ پۀ ډډه او یا ملاست وي سفېد پــــوشه
نۀ تکبیــــر او نۀ قــــرات وي ، ټول خاموشه

پۀ تعبیـــــر کښې یې خیاّمه څۀ تشریح ده ؟
دَ لېدونکــــــي پۀ مرګي باندې تصریح ده



پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

# ( امرود )

چې شفا پکښې دَ دست ، قبض موجود ده
اوس تاویل ته اراده مې دَ امرود ده

دَ شیرین امرود دلیل په مال حلال دے
یا په غم یې شي تعبیر کهٔ نو نهال دے

څهٔ چې لیک ستا په تقدیر کښې دَ میعاد وي
دَ شیرین امرود تاویل دویَم مُراد وي





پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

# ( انار )

په خـــوبۍ کښې دَ انـــارو نه اشنا يم
په بې کچه ســـودمنۍ يـــې زهٔ ګويا يم

انارونـــــو ته چې ما اوکـــــړه کتنه
نو خوبۍ ورپکښې ډېـــرې دي دننـــه

ډېـر فشـــار لره انار ګورے اکسير وي (١)
دَ سرطان مريض لهٔ دې کښې به توفير وي (٢)

اشتها دَ لوږې دې ســـره زياتېـــږي
ماشومانـــو لهٔ اوبهٔ يې سودمنېـــږي

---

(١) فشارِ خون : Blood Pressure

(٢) توفير : ګټه

چې سبا سبا اوبهٔ څښـــي د انـــارو
زهٔ حېران يم چې هغه سړے به څهٔ مري ( خوشحال بابا )





پښتو.نېټ
PUKHTO.NET

کۀ اسهال توخے لۀ دې سره ورکيږي
پرې هډونه دَ طفلانو مضبوطيږي

تقويّت بخښي کمزورې هاضمې ته
ضرورت دَ انار ډېر وي حاملې ته

چې دې تل دَ زړۀ خرمن سوزي پۀ سوز کښې ①
استعمال دَ انار کړه پۀ شب و روز کښې

خوږ شيرين انار پۀ اصل کښې عطا ده
پۀ يو قول کښې دَ جعفرؓ ښځه پارسا ده ②

① كُلِ الرّمَانَ بِشَحْمه ، فَانَهُ دَبَاغٌ لِلمَعدَة ، وَفي كُلّ حَبَة منهَا ، اذا اَستَقَرَت في المَعدَة حَيَاةٌ للقَلب ، وَانارَةٌ للنَفس ، وَتَقرِضُ وَسَاوسَ الشَيطان اَربَعينَ صَبَاحاً ، وَالرُمانُ مِنْ فَوَاكه الجَنَة - (علي بن أبي طالبؓ)
هر انار چې ګلفم وي نو ښېشکه هغه د معدې د پاره خوروړ وي او هره دانه چې معدې ته لاړه شي نو د زړۀ د ژوند او دَ نفس دَ رڼا سوب ګرځي او دَ شېطان وسوسې څلوېښت ورځې دفع کوي او انار جنتي مېوه ده-
② پارسا : نېکه

په همّت دَ مـــرد و زن به دغـــه مال وي
څو يې توان ، څو يې توفيق او څهٔ خصال وي

دَ همّت په پــــــروبال هم دَ شاهانــــو
ولايت تعبيـــــر اوخکلې امامانــــــو

مګر تُــــرْش" انار" ښهٔ نهٔ وي کهٔ پوهېــږې
بې لهٔ غمــه نــــور څهٔ نهٔ وي کهٔ پوهېـــږې



ښتو.نيټ
PUKHTO.NET

## ( اُنثَیان - خُصیې )

انقطـاع دَ جینکـو وي ، په کاله کښې ①
اُنثَیـان که دې معدوم شـي په آله کښې

غلبه دَ حـــریفانـــو ، هُم تعبیـر شي
خـو دَ هــرې معنیٰ اِذن په تقدیـر شي

احیاناً به یې تعبیـر په لونـــو کېـږي ②
یا ضائع شـــي یا دَ مـــوره وزیږیـږي

علامت یې په تعبیــر کښې دَ غَنا شي
دواړه خایه که دې ډکـــې په هوا شي

---

① انقطاع : پرېکړه ، منقطع -
② احیاناً کله کله -



پښتو.نیټ PUKHTO.NET

بې ثباته زندګــي پکښې تالا شي
کۀ بهـر دې لۀ خـرمنې چرته "ها" شي





پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

# ( انجیل )

دَ مریم پهٔ زوي نازل چې دے یـــارانو
لاس وهنه پکښې کـړې عیسایـانو

فـرېفته به دَ باطل دَ عشق پهٔ نول شي
دَ انجیل دَ خوب تعبیـر دَ تغافُل شي





پښتو.نیټ PUKHTO.NET

# ( انځر )

اوس بيـــان به دَ انځــر اوكـــړمه تاته
هغه څۀ چې وَ معلوم دي يــــاره ماتــه

پۀ "انځر" كښــې به خصلت دَ معدنيـات وي ①
ليف نباتي پۀ "انځر" كښې هم ډېر زيات وي

پۀ خــوراک كښې يې پكار دے اعتــدال هم
ډېر خــوراک يې باعث كېـږي دَ اسهال هم

بنيـــادم يې پۀ خوبونـــو كښې خسته دے
څۀ حكمت خو دَ يزدان پۀ دې كښې شته دے

دَ "انځر" خوراک پۀ خوب كښې پښېماني ده
دَ "انځر" خوړل پۀ خوب كښې بيمـاري ده

① معدنيات : Minerals | ليف : Fibre

# ( اندام )

کۀ پرېک شـــوے دې اندام وي لۀ بدنه
نـو دَ مال د تـــالان دا کـــوي ښــــودنه

اندامونه کۀ پۀ خوب کښې يې ګويا شي
نو ليدونکے پۀ خلقت کښې به رسوا شي

کۀ څۀ بـــرخه دَ اندام پۀ درد دُمار وي ①
تأمُل به پۀ تعبيـــر کښــــې دَ بيمار وي

① دُمار : تباه يا تباهي ۔
تأمل : سوچ و فکر يا تذبذب ۔





پښتو.نيټ PUKHTO.NET

## (انغرے یا کانون)

کۀ دَ اوسپنې کانون شولو اوښاره
پۀ تعبیر کښې وي دا ښځه نسب داره

انغرے کۀ دَ لرګي دې پۀ بورجل وي
دا تعبیر دَ منافقې ښځې تل وي

انغرے کۀ چرته وي دغه دَ خاورې
نو تاویل به دَ بې دینې ښځې واورې

# ( انګبین )

انګبیــــن ، شهد یا عسَل چــې ثمیـــن دي
اوس صفت او تاویلـــــونه دَ ګبیـــــن دي

دَ تـــوخي او هاضمې علاج پرې کېـــــږي
هم زخمــــي معده په دې باندې جوړېـــږي

انګبین دے مخ نیـوے دَ باکتـــــریا هُم
چې پهٔ دې کښې یـزدان ایښـــې ده شفا هُم

انګبین دَ پاک رســــــول به خـــــوښېدله ①
پهٔ خـــوراک کښـــې کاروه یې کلـه کلـه

① علَيْكُمْ بِالسَّنَا وَالسَّنُّوتِ؛ فإنَ فيهما شفَاءً مِنْ كُلِ دَاءٍ إلاَ السَامَ قِيلَ يَا رَسُولَ الله ، وما السَّامُ؟ قَالَ الْمَوْتُ ( ابن ماجه )

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ الله عَنْـهَا قَالَتْ كَانَ رَسُـولُ الله صلى الله عليـه وسلم يُحِبّ الحَلْوَاءَ وَالعَسَل ( متفق عليه )





پښتو.نېټ PUKHTO.NET

پهٔ تعبیر دَ انګبین کښې درې اقوال دي
منفعت ، دَ زړهٔ مُراد ، پهٔ رزق حلال دي

سېوائي پکښې نیکي او غنیمت وي
جوهري پوهه دَ زړو پهٔ قیمت وي (۱)



(۱) يَخْرُجُ مِن بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ ۔( سورة النحل )
راوځي له ګېډو له دوی ،دَ څښلو د پاره (شات) چې مختلف رنګونه لري
په دغې (شاتو) کښې شفا ده ، دَ پاره دَ خلکو ، بېشکه په دغې کښې
خامخا ډېر لوی دلیل دے دَ پاره دَ هغه قوم چې فکر کوي ۔

## (انګُشتري يا ګوتمه)

کۀ خبـــر ځوک پۀ احکام دَ شـــريعت وي
نـو هـــر کار به يې رســا پۀ طريقت وي

دا دَ ســرو زرو "ګوتمې" پۀ مُرد حـرام دي
ما سيــوا دَ سپينـــــو زرو نه چې عام دي

پۀ "ګــوتمې" به اطلاق ؤشـــي دَ سنّتو (١)
داسې نۀ چې "ګوتمې" ډېرې وي پۀ ګوتو

صريحـې حکم يې نشته دے پۀ دين کښې
اوامِرو ته سَــر خم کـــړه پۀ ائين کښې

(١) عَنِ النَبِيِ صَلَى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَمَ كَانَ يَلْبَسُ خَاتَمَهُ فِي يَمِينِهِ
(سنن أبي داود وصححه الالباني في صحيح سن أبي داود)





پښتو.نيټ PUKHTO.NET

کۀ په خوب کښې خط سند درته څوک درکړي
نو تعبیــر دَ دغې خوب به دې سْــره زر کړي

لګـــولے کۀ دې مُهــــر پۀ ګــــوتمه وي
دا دَ راز دَ فــــاش کېــــدلو علامــه وي

کۀ ګوتمه درنه ضائع شـي او یا ورکه
پۀ تعبیـــــــر یې دَ آفت شه هکه پکه

کۀ ګوتمه چـــرته وي ورکه دَ زنــــانو
دا دے مرګ دَ فـــرزندانو ، خاونــــدانو

داسې خوب کۀ دَ باچا پۀ سر یې تاج وي
پۀ تعبیــر کښې باچاهي به یې تاراج وي





پښتو.نیټ PUKHTO.NET

دَ مقیم په حال خبـــر ښوک غـــریبه دے
دَ ګوتمې ماتـــې تاویل څۀ عجیبه دے

کۀ دې ماته وي ګـــوتمه کانړے سالم وي
بُـــزرګي وارہ آبـــرو به دې قایم وي





پښتو.نیټ PUKHTO.NET

# ( انګور )

پهٔ انګـــورو کښــې خاصه به دَ فقـــدان وي ①
دا چې وزن دَ وګـــــــړو فــــــراوان وي

پهٔ انګـــــورو به نـــوبت دَ قلب کمېــــــږي ②
پهٔ انګـــــورو خُلايـــې دَ جلد سمېــــــږي

تعبیرونـــــو کښې به درې توکه انګــــور وي
تور سیاه ، اسماني سپین او دریم به سور وي

تـــــور سیاه انګـــــور ده نخښه دَ غمونـــــو
شه خبـــر دَ دانیـــــــــال پهٔ تعبیرونـــــو

---

① فقدان یا انقاص دَ وزن : دَ وزن کموت
فراوان : ډېر زیات
② نوبت القلب : Heart Attack





پښتو.نیټ PUKHTO.NET

تور سیاه انګور چې وي په خپل موسم کښې
نو تعبیر یې بیا اوخکلے شـي په "غم" کښې

اسمانـــي رنګه انګور شـان و شوکت دے
خـــو الحاق دَ داسې خـوب په مُشقّت دے

اسمانـــــي انګور فائده ده ډېـــره ستـــره
ده دَ سُـور انګـــور فائده تـــرېنه کمتـره

دَ انګــــورو نه اوبهٔ ویستــــل په لاسو
تعبیـــــرونه دري لهٔ دې نه را اوبـــاســو

فــــــراخي او بـــــرکت دوه تاویلـــونه
بل لهٔ قحط به شــــي امن هیـــــوادونه (۱)

(۱) ثُمَّ يَأْتِي مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ عَامٌ فِيهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ ۔ (سورة یوسف) بیا به راشي پس لهٔ دغې (قحط سالۍ) نه یو کال ، په هغې کښې به باران کولے شي په خلکو او په هغې کښې دوی میوې به نچوړي ۔

## ( انګیتې )

انګیتـــې به یې مریـــې وي کۀ پوهېـــږي
پۀ خـــــادم او یا پۀ ښځه تعبیرېـــږي

چې ځنګ نُقص او ځنګه وضع دَ مجمر وي
داسـې نقص او داســـې وضع مقـــرر وي

تعبیـــرونه دَ حالاتـــو پۀ اســـــاس وي
پۀ حالت دَ انګیتـــې به دا قیـــاس وي





پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

# ( انناس )

دَ تعبیــــر نه وړاندې لږ غوندې خواص وي
په مېــوو کښې یـــو مېوه دَ اننـــاس وي

په نـــزله کښـې اننـــاس دے مُجّـــربه
کــړي صفا دَ ســږي څو ورځو کښې طبعه

هاضمې لره به ښۀ وي اعتـــــدال کښې
بسیـــار خور به ګرفتار شي په اسهال کښې

په هــر څۀ کښې وي بدیت چې کله ډېر شي
دا مثال دے چې شي ډېـر نو بیا ګنده ېر شي

اعتدال یې په خـوراک کښې ضروري دے
زنانــــوو له په حیض کښې نقصانـي دے



PUKHTO.NET

چې خوړلې چا په خوب کښې "اناناس" وي
تعبیــــــرونه یې بیا دوه په یو قیاس وي

په شیــــرین باندې تاویل دَ مال حلال دے
په بې خــوَنده اناناس دَ رنځ اشکال دے





پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

## ( اَهرامات د مصر ) ①

بـــوالعجبه اَهـــرامات په قاهــــره کښې
دَ آثــــارو عبرتـــــونه ، په جيــــزه کښې

چې معمـــار يې خبــــردار په حقيقت شـــي
اَهـــراماتــــــو ته يې عقل په حېرت شـــي

لوړ خُوفـو دے ، ورپســـې خُفرُع هرَم دے
مُنقَرِع ورپســــې دريم خسته بـــرهَم دے ②

---

① اَهرامات دَ آلِ فرعون هغه اثار دي کوم چې په جيزه نومې ځای کښې دَ قاهـرې نه په لږه فاصله کښې اوس هم موجود دي ، وئيلے شـي چې دغه دَ شاهـي آل مقبرې وې او سره دَ خپل متاع پکښې مدفون وو ، ستر اَهرام خوفو دے ، بيا ورپسې خُفرُع دے او دريم مُنقَرع دے او خُفرُع ته مخامخ ابوالهـول دے چې جسد يې دَ زمري او صورت يې د انسان دے ، وئيلے شـي چې دغه صورت دَ دوی په آل کښې دَ يو باچا وو او احتمال دے چې دَ خُفرع باچا صورت دے ۔

② معمار : ( Architect ) والله اعلم





پښتو.نېټ PUKHTO.NET

مخامخ خُفرُع هـــــرَم ته ابــوالهـول دے ①
چې بې يـــاره مددګاره پـــروت په چول دے

ګــوره څۀ کارونه خُدائې دَ دوی په آل کړل ②
اَهـــرامات يې نـــن دنيا وَته مثـــال کړل

په خوبونــو کښې اَهـــــرام لېدۀ بدعت وي
يا تعبيـــــر يې دَ بې دينـــــــو رفاقت وي

يا علـــوم دي يا فنــــون ، دَ مشرکانـــــو
يا مسلک اختيــــــارول دَ بدعتيانــــو

يا سُـــرنا وي ، يا باجه وي ، يا هوها وي
يا تعبيـــــر يـــې دَ ډمانـــــــو په نڅا وي

① چول : بيابان ، مېره .
② پۀ سبب دَ دوی دَ اعمالو ځکه چې الله په چا ظلم نۀ کوي .

یا تنْبیه دَ صِدّیقــون په خوب کښې شینــه
یا تعبیـــرِ یـې په اطلاع دَ عبـرت وینـــه

① صدّیقون دَ الله هغه مقرره فرښته چې دَ الله په امر نېک بندګانو ته په خوبونو کښې بشارت ورکوي ـ





پښتو.نېټ PUKHTO.NET

# يو څو انځورونه





پښتو.نيټ
PUKHTO.NET



خُوفـو
(Khufu)

خُفْرُع
(Khafre)

مُنقَرِع
(Menkaure)



ابوالهول
(The Sphinx)





PUKHTO.NET

# ( آهو یا غزال )

ننداره کۀ څوک پۀ خوب کښې دَ آهو کړي
نــو پۀ ویښــه بـه هم دغه جستجو کړي

آهــو چشمه غـــزاله به یې پۀ کــور شي
پۀ ښکلا به یـې زړګے ټکـور ټکـور شي

ښکلـــې ښځه مېلاوېـــږي بختــور ته ①
هر یـو کس ته مېلاوېـــږي داسې چـرته

① تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَلِجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ «راوه بخاري ومسلم»

## ( اوازونه او غږونه )

اوازونه بـــزرګي وي دَ ســــرو نه
بـــرخلاف يې وي تعبيـــــر دَ ښځينو نه

که په جــار نعــرې وهې نــو بلندي ده
غلــي غلــي اوازونــه دې پستـــي ده

که په خوب کښې اوربدلې دې څۀ زوَږ وي
دا به تــا لـــره منه چــې دَ غم غـــږ وي

خدايه ! څۀ عجيبــه غـــږ دا دَ ژړا دے
په خوبونو کښې تعبيـــر يې په خندا دے !!




پښتو.نیټ PUKHTO.NET

دَ ګـونګـــــي دَ اواز نۀ دي اورېـدل ښۀ
اورېدلـــو نه يې ډېـــر دي کـــونېدل ښۀ

کۀ پۀ خوب کښې وي دَ زانـــو اوازونـه
ستا پۀ سـر به شي دَ ښـو خلقو لاسـونه

دَ لقـلق او ډينګ اواز دَ خـــوشحالۍ دے ①
دَ غريب دَ پـــاره زېرے دَ سيـــالۍ دے

اورېدلے کۀ دَ زرکـــې دي اواز وي
په تعبير کښې دَ ښـــائېسته ښځې جواز وي

که پۀ خوب کښې اواز واورې دَ کرکـوړې
شـــي ښکاره به دَ دروغـــو درته دوړې

① لقلاق او ډينګ : اوږده مښوکه او لويه غړۍ لرونکې مارغه چې کبان يې خوراک وي او غوپه ماروي - (Stork)





پښتو.نېټ PUKHTO.NET

کۀ پۀ خوب کښې صداګانـــې دَ ایلۍ وي
ور پۀ ســـر به دَ غمونـــو ښۀ ګاټلۍ وي

دَ هُـــدهُـــد مُـلاچـرګک اواز زیبا دے
دَ دې خوب نه دَ بـــــري مطلب صفا دے

ستا پۀ اهل کښې یـو کس به زهیرېـــږي
دَ بطخـــــو پۀ اواز دا تعبیرېـــږي

دَ چنچڼـــو اوازونـــه خـــوش الحـــانه
اوازې دَ خوشخبـــرۍ دي لۀ سبحـــانه

دَ چرګانـــــو او طاؤس تعبیـــر التہ دے ①
هـــر صاحب پۀ اورېدنـــه یې خسته دے

① وکرِهَ المُعَبِرُونَ الطاوُوسَ وَالدَجَاج وَقَالُوا اِنَهُ هَمٌ وَحُزُنٌ ـ
( کتاب : تعطیر الانام في تعبیر المنام )

دَ کارغهٔ قاں قاں کښې څهٔ دي ؟ خدايي ده (۱)
علامت يې پهٔ تعبير کښې جدايي ده

دَ کونترې او غزال ښکلے اَسرار وي (۲)
داسې غرِ ته دَ عُشّاقو انتظار وي

دَ مُلخ او سرې مچۍ بنګار ښهٔ نهٔ وي
مُضطرب يې شي پهٔ خوب کښې چې اودهٔ وي

دَ لېوهٔ اواز به جنګ او خصومت وي
پهٔ تعبير کښې به هم دغه روايت وي

خدائې دې اوساته دَ ښځو لهٔ جنجاله
دَ ګيدړ دَ غرِ تعبير دے دغه تاله

---

(۱) وَصَوتُ الغُرابِ فِراقٌ وَنعي : نعي يعنې دَ مرګ خبر ۔
(۲) وهَدِيلُ الحَمَامِ نَوحٌ أو نِكاحٌ ۔
(کتاب : تعطير الانام في تعبير المنام)

پهٔ تعبیر کښې علامت دَ خېر مذکـور دے
دَ پُسکوري، پسکورئ اواز سُــــرور دے

پهٔ تعبیرکښې ستا دَ ښځې ښکلے راز دے
اوربدلے دَ بیـــــزې کهٔ دې اواز دے

اوازونـــه انْکـــرَه که دا دَ خـــرو وي ①
دَ احمق ســـــړي به بد پهٔ تا پېـــرزو وي

دَ فـــرَس چې اوربدنـــــــه دَ اواز کا
یـــو ځوک نـــر به پهٔ عطا یې سرفـــراز کا

سنګ دلي یې شـــي تعبیـــر دَ سنګ دلانو
دَ قچر ښهار پهٔ خوب کښـــې دَ بندیانـــو

① ونَهِيقُ الحِمَارِ دُعَاءٌ عَلىٰ الظَالِمِيْن۔ (کتاب: تعطير الانام في تعبير المنام)
إنَ أنکَرَ الاصْوَاتِ لَصَوْتُ الحَمِير ۔ (سورة لقمان)



پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

که دَ سخي ، غوایه او غوا اواز فتنه ده[1]
نــو دَ مــار ، لړم پښهار دَ خوف منبع ده

کهٔ پهٔ خوب کښې دې تر غوږ دَ سپي غپار شي
نو تعبیـــــر يې پښېمــــــاني دَ عبث کار شي

دَ دنیا خانـــــــي میــــــري یا تجارت شي
بــــــرړېدهٔ چـــې دَ اوښانـــــو سماعت شي

کهٔ غـړمبار درته پهٔ خوب کښې دَ ضیغم شي
نــــــو تاویـــــل به یې دَ غتمـــو دَ ستم شي

کهٔ اواز پهٔ خوب کښې واورې دَ لومبـــــــړې
جــــوړوي به درتــــــه دا ، دَ کینـــــــې لړې

١ فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلاً جَسَداً لَهُ خُوَارٌ فَقَالُوا هٰذَا إِلٰهُكُمْ وَإِلٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِيَ ۔
نو راوویستې ؤ دوئ دَ پاره سخې ، یو جسد ، چې هغه لره آواز ؤ په شــان دَ غوا
نو وئیلې ؤ دوئ ( سامري او تابعینو یې ) چې دا دے معبود ستاسو او دا دے
معبود دَ موسٰی ، پس هېر کړے دے ده ( خپل خدائ دلته او طور ته تللے دے )
( سورة طٰه ٨٨ )

اوازونه نور همه واړه ناؤلي ①
تعبيرونه دي دَ ښکلي آواز ښکلي

① خصوصاً هاغه مارغان چې فال ګر ترې فال اوباسي ، تعبير يې ښهٔ نهٔ وي ځکه چې بدفالي ويستل حرام دي ـ پهٔ دغه اړه دَ ډاکټر علی خېل درياب صېب تفصيلي څېړنه او ادبي زيار "پښتانهٔ او توَهُمات" کتاب اوګورئ ـ





پښتو.نېټ PUKHTO.NET

## ( اور - نار )

کۀ پۀ خوب کښې اور اخيستے وي خزلو ①
دے تعبيـــــر يې دَ وژلـــــو قتـــلولو

کۀ پۀ خوب کښې څوک پۀ اور باندې لګړه شي
دَ ملوک لۀ خــوا تکليف ته دې تکړه شي

پانـــــې ، وُنـــې او ګلــــونه کۀ سوزېږي
نــو اولس به پۀ فتنـه کښې هلاکېـــږي

کۀ دې مړه کــــــړه بې سببه دَ اور شمع
نـــو دَ امن به بيا نۀ کـړې نـــوره طمع

① كُلَمَا أوقَدُوا نَارًا لِلْحَرْبِ أطفَأهَا اللهُ وَيَسْعَونَ فِي الارْضِ فَسَاداً
هر کله چې بلاوو دُوې اور د پاره د جنګ نو مړ کوو به هغه الله ، او سعيه کوي
دُوې پۀ زمکه کښې لۀ پاره دَ فساد اچولو
( سورة المائدة ٦٤ )



پښتو.نېټ PUKHTO.NET

کۀ پۀ خوب کښې دې وژلې سره لمبه وي
پۀ تعبیــر کښې دَ فتنـــــو به خاتمه وي

کۀ پــوشاک دې ســـوزولے چرته اور وي
نو نشاط به لۀ تا ځي پۀ اس به ســور وي

کۀ ســرونه اور ته خم کــــړه مجوسیانو
نــو تعبیــر به یې خدمت وي دَ شـــاهانو

کۀ پۀ خوب کښې دې لاس چرته کښې بېضا وي
نــو مراد به دې پـــوره لکه موسیٰ وي

دَ خوراک پۀ کــوم یو څیز چې اور بلېــږي
پۀ ګــرانۍ دَ هغه څیـــــز به تعبیربــږي



پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

کۀ پۀ خوب کښې دَ اورونـو سوداګر شوې
نـو اخته لاړې پۀ چارو کښې دَ شـر شوې

کۀ پۀ اور دې طعام باندې وي پخېـــږي
پۀ تعبير کښې به مراد تر لاسه کېـــږي

کۀ پۀ اور طعام کچه پاتـې شي اوم وي
پۀ تعبيـــر کښې لۀ مراده به محروم وي

پۀ تعبير کښې يې اطلاق پۀ خدمتګار وي
چــې ليدلې اورلړونے چا دَ نـار وي

پۀ تــورتم کښې کۀ دَ لاســه يې اور بل شي
نـو ملحوظ به پۀ تــولنه کښې مشعل شي



پښتو.نېټ
PUKHTO.NET

دَ اورونـــو دَ خوراک به څهٔ تعبیر وي ؟ [1]
حرام مال به دَ مسکین وي ، دَ اسیر وي

دَ زړهٔ اور به يې سبب دَ جدايۍ شي
دَ مئینـــو تعبیـــــرونه دَ خوارۍ شي



(۱) إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا ۔
(سورة النساء/آیت ۱۰)
بېشکه هغه کسان چې خوري مالونه د یتیمانانو پهٔ ظلم سره نو خبره دا ده چې خوري دُوې اور پهٔ ډکو ګېډو سره ۔

## ( اوره یا هوره )

ځانګړتیا دَ اورې شته دے هُم عیبـــونه
زۀ به تـاتــه دربښکاره کـــړم دا رازونــه

هُم شفـــا ده ، هُم بـــلا ده زما وروره
بس له هسې خـوراکۍ نه یې ځان ژغوره

خاصیت دَ اورې څۀ دے ؟ خو تریاق دے ①
لۀ نظـــره مې تېـــر شوے پۀ اوراق دے

مُقابــــــل اوره پۀ ضد کښـــې دَ ورَم ده
هُم خاصه پکښـــې دَ دفعــــــې دَ بلغم ده

---

① تریاق: دَ زهرو اثر ختمونکے ۔ ( Antitoxin )
الطب النبوي لابن القیمؒ ۔



پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

پهٔ جمات کښې پهٔ سرې بند شي مونځونه
ورســـرَه ورســــرَه شمېـــره علتــــونه

بوئ يې څهٔ کړې خو نظـر پـرې ضعيفېږي [١]
کهٔ يې خورې قوّت دَ باه پـــرې هم کمېږي

خورنده دې التفات کـــړي سرخـــوږي ته
بل ضَـــــرر هُم رســـوي اوږه مغــزي ته

دغه کرښې مې کړې توري پهٔ تحرير کښې
اوس به راشم دَ خوبونـــو پهٔ تعبيـر کښې

علامت يې دَ خپلوانـــو پهٔ ضرر کــــړه
کهٔ دَ زمکـــــې نه دې اوږه رابهر کـــړه

١ أنَهُ يُصدِع، وَيَضرُّ الدِمَاغَ، وَالعَينَينِ، وَيُضعِفُ البَصَرَ وَالبَاه - الطب النبوي لابن القيم رح -

بد خبر دے، بد شهرت دے، حرام مال دے
یا ژړا ده ، یا زحمت دے ، یا وبـــال دے

هغه اوږه چې په خوب کښې جــوش وهینه
علامت یې په تعبیـــر کښې تـــوبه وینه





پښتو.نیټ PUKHTO.NET

# ( اوړهٔ )

دَ غنمـــو کهٔ اوړهٔ دي یا جُـــوار دي
پهٔ تعبیـــر کښـــې دَ خواصو پامته دار دي

رِزْق هم دے، هم صحت دے پهٔ اوړهٔ کښې
هم قوّت یې رب ایښود ے پهٔ خواړهٔ کښې

علم ، پُـــوهه ، هدایت او یا شفـــا ده
پهٔ تعبیـــر کښې دَ اوړو بـــویه عطا ده

دَ اُوربجو دَ اوړو تعبیـــر نعمت دے
دَ اربشـــو دَ اوړو تعبیـــر غُـربت دے

تـــول اخښلې اوړه دَ خپلو ښهٔ خبـــر وي
دَ جُـــوار اوړه اخښل څهٔ لا بهتـــر وي





پښتو.نیټ PUKHTO.NET

تفاوت په حــق بـاطل کښې راویستل کا
په غلبیـــل چې دَ اوړو ځوک چڼـول کا

کۀ دَ اوړو ذخیـره خـــرڅه دوکاندار کا
"نو دَ دین متـــاع بدله په دینـــار کا" ①

دروازې به دَ رِزق بېـــرته پۀ هغۀ کا
په هــــوا که اوړۀ چا وتـــه راتلۀ کا

تعبیـــرونه مې دَ زړۀ پۀ سترګو ګوره
دا دَ سر پۀ سترګـــو نشـــي زما وروره

① رحمان هسې بېوقوف سوداګر نۀ دے
چې دَ دیـــن متاع بدله پۀ دینـــار کا

(عبد الرحمان بابا)

## (اوسپنه یا حدید)

اوس دَ "اوسپنې" تاویل دَ ابراهیمؒ دے [1]
چې تعبیــــر یې مستنــد او مستقیم دے

دا دَ اوسپنې لیدهٔ پهٔ خوب غریــق کښې
مـــرتبه او سیم و زر وي پهٔ تحقیــق کښې

نـــواله به دي شـــرف کا پهٔ زمن کښې
مولا ایښے یې ورتوب دے پهٔ خوردن کښې

کهٔ دَ اوسپنـــې خوراک ســرَه دَ نـــان وي
پهٔ تعبیــر کښې مُیّســر حیله نقصــان وي

احتمال یې پهٔ تعبیــر کښې دَ خُســران دے
پهٔ چیچلو کهٔ دَ اوسپنـــو شـــادان دے

(۱) ابراهیم کرمانيؒ



پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

په تعبیـــر کښې علامت دَ تـــوانګـر وي
جــوړوَل کۀ څۀ الات تــرې دَ اینګـر وي

مُبّـــدل به دَ شیـانـــو په خامۍ شـــي
لۀ حدیده چې اخـــراج دَ خام کامۍ شـــي

اندېښنه یې په تعبیـــــر کښې دَ خلل شي
چې دَ کانــو نه دَ اوسپنـــې ویستل شي

صدقـــــه به دې څۀ بچ کا لۀ جنجـــاله
په تعبیـــر کۀ یې وېرېــــږې لۀ وبـــاله

## ( اوښ )

چې پېدا لۀ شياطينـــو نه اوښـــان دي ①
پۀ هـــر اوښ ورپســـې ځکه شېطانان دي

شېطانان وي استـــوګن هلته قـــرار کښې ②
مَنع مونځ دے دَ اوښانـــو پۀ حصار کښې

کۀ دَ اوښ غوښه دې چـرته کښې طعام شي ③
نـــو واجب پۀ مصلحت به چار انـــدام شي



① إنّ الابِلَ خُلقَتْ مِنَ الشّيَاطِينِ وَ إنّ وَرَاءَ كُلِّ بَعِيرٍ شَيْطَاناً -
( صحيح الالبانيّ )

② لا تُصَلُّوا فِي مَبَارِكِ الابِلِ ، فَإنَهَا مِنْ الشّيَاطِين - ( رواه ابو داود )
حصار يا باړه : چرته چې اوښان تړلې شي -

③ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَى اللهُ عَلَيْه وَسَلَمَ عَنْ الوُضُوءِ مِنْ لُحُومِ الابِلِ فَقَالَ تَوَضّئُوا مِنْهَا وَسُئِلَ عَنْ الوُضُوءِ مِنْ لُحُومِ الغَنَمِ فَقَالَ لا تَتَوَضّئُوا مِنْهَا -
( رواه أبو داود والترمذي )



پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

تعّجُب پۀ دا مقال مۀ کــــــړه هوشمنده
تعبيــــرونه مې بېــــرون نۀ دي لۀ پنده

پۀ تعبيــــر کښې به دَ وېــــرې احتمال شي
که پۀ پښو کښې دَ اوښانو څوک پايمال شي

کۀ دَ اوښ پۀ قوب څوک تلے پۀ سفــــر وي
نو سفــــر به دَ دۀ خامخا پۀ ســــر وي

کۀ شــــوه لاره پۀ سفــــر کښې درنه وُرکه
عاجــــزي به لۀ مــرامه وي بــــې شکه

کۀ دې اوښه په لاس راشــي اُميــــدواره
دا به زېــــرے دَ فــــرزند وي ستا دَ پاره

کۀ پۀ اوښ باندې ســورلي کــړې غضب ناکه
مُسّلط به شي کفيــــل پۀ تا سفــــاکه

کۀ پۀ خوب کښې چـرته اوښه دې لوَشله
نو تعبیـــر یې شیـــرین ګڼه تــــر عسَله

کۀ دَ پئیو په ځای وینې تـرې حاصل کړې
څۀ به چـــــارې دَ حــرامو عوامل کړې

کۀ دې اوښه پۀ ســـــارِق وي اوړېدلــې ①
نو تـــــاویل دے دَ عورتــــې پۀ جګړې

کۀ دې اوښه دَ مرګــي پۀ خوب اودۀ شي
نو تـاویل به ، د مېرمن پۀ فـراق ، وۀ شي

کۀ دَ اوښ سره دې خوب کښې شي خبرې
دا دَ خېـــر او دَ نیکــــــۍ دي ملغلـرې

---

① سارق یعني غل .

یادښت :
دَ حضرت جعفر صادقؓ نور تعبیــرونه هم دَ اوښ پۀ لړ کښې دي لکه مرد مؤمن ، فتنه ، مالداري ، ښځه ، حج او نعمت وغېره



پښتو.نیټ PUKHTO.NET

## ( اشک یا اوښکې )

کهٔ پهٔ خوب کښې دې چشمان دواړه پُر نم شي
ښایـــــي دا چې ستا غمــونه به لږ کم شي

کهٔ روان دي وي دَ کســـو نه رودونـــه
نـو تـــاویل دَ داســې خوب وي تش غمونه

کهٔ دې اوښکــې بې ژړا پهٔ مخ پْـــرتې وي ①
پهٔ تعبیـــر دَ داسې خوب کښې به طعنې وي

خوب لیـدونکے به ارومرو غمګین شـــي ②
تور دَ سترګـو پهٔ ژړا کهٔ یې تک سپین شـــي

① الدَمعُ عَلَى وجهه مِن غير بُكاء فإنّه يطعَن في نسبِه - ( مُعَبيرين )

② وَتَوَلّى عَنْهُمْ وَقَالَ يَا أَسَفَى عَلَى يُوسُفَ وَابْيَضَّتْ عَيْنَاهُ مِنَ الْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيمٌ -
او مخ اوګرځو ( یعقوب ) لهٔ دغو ( ځامنو نه ) او وې وېیل های افسـوس پهٔ یوسف او تکې سپینې شوې دواړه سترګې ( دَ دغه یعقوب پهٔ ژړا ) له غمه او دې ډېر لهٔ غمه ډک ؤ - ( سورة یوسف )





پښتو.نیټ PUKHTO.NET

دري اقــوال دَ جعفــر رض نور شته په تعبير کښې [1]
مال ، ښــادي او دريَم غم دے په تحرير کښې

① حضرت جعفر صادق رض -



پښتو.نيټ PUKHTO.NET

## ( اولتې یا باقي )

تعبیـــــرونه پهٔ دا باب د مُعّبـــرو
کُـړو پـــره مې هـر کتاب د مُعّبـــرو

چې څرګنـــده دَ خوبونـــو کېفیات شي
پهٔ اســـاس دَ حالتونـــو تعبیرات شي

قے کول کهٔ دَ ملحوظ چرې دشوار وي
دَ ګنـاه پهٔ کـور ګــذر دَ ګناهګار وي

کـــور دَ زړهٔ به یې تش نهٔ شي لهٔ هوَسه
مګر فضل کهٔ خدای کـړو پهٔ بوالهوَسه

غرغـــــړې کهٔ دَ اُلټـــو وي بې دِقته
علامات به دَ تـــوبـــــــو وي بې دِقته





پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

کهٔ پهٔ قے کښې دَ لړمونـه څهٔ بهـر شي
ورسـره کهٔ یا ځیګـــر او زړهٔ بهـر شي

پهٔ تعبیر کښې علامت دا دَ وفات دے ①
چې اطلاق یې پهٔ صاحب یا ذُریّات دے

چې اِخـراج څهٔ پهٔ اُلټو کښې دَ بلغم وي ②
نو خلاصے یې علامت لهٔ درد و غم وي

چې باقـی کوي او خوري یې ګرم و تـره
دَ بخیل ســـړي عیـــال وي بې ثمره

کهٔ دَ وینـــې او شرابـــو قے کـوینه
عقوبت به دَ حرام نه تـــوبه کـــړینه

---

① ذریّات : نسلونه یا نسل ـ

② اخراج : ویستنه ، غورځونه ـ



پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

دَ فقیــر دَ قے تعبیـــــر به دَ اسباب وي
پهٔ خوبونو کښې بهتر دَ فقیر خواب وي

ما سپـــوا دَ "پښېمانۍ" نه مُعتبر دي [1]
تعبیـــرونه غــوره غـــوره دَ جعفر[رض] دي



(۱) پښېماني ، له غمه نجات ، توبه ، بریالتوب او دَ امانت واپسي د امام جعفر صادق[رض] اقوال دي۔



پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

## ( ايّوب ) عليه السلام

په دُعا کښې چې "رَبّي" دَ زور پـــازه شي [١]
نو ايّوب ع دَ بــرودت په چشمه شتـــه شي

کۀ ديدار دې دَ ايوب په خوب کښې وۀ شي
دَ ازمېښت چـړه په باټ باندې تېرۀ شي

بل تـاويل چې په ليدو کښې دَ ايّوب ع دے
صبر صبر او بــرداشت ورته منسوب دے

---

(١) وَأَيّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ أَنّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ـ ( سورة الانبياء ٨٣ )
او ايوب کله چې ندا يې اوکړه خپل رب ته چې بېشکه رسيدلے دے ماته ضرر
او تۀ ډېر مهربان يې لۀ ټولو مهربانو څخه ـ





پښتو.نيټ
PUKHTO.NET

## ( ائينه يا هنداره )

دَ سـرو زَرو ائينـه به ، استغنـا وي
دَ سپيـن زرو نه افلاس به هويـدا وي

په زنګ شوې ائينه کښې چې سينګار کړه
خوب دَ بـدو به ګرېـوان يې تار په تار کړه

ائينـه کښې کۀ وَ ځان ته څوک په څار وي
په زېـړون دَ نر فرزنـد دې خبردار وي

ائينـه کښې کۀ حامله ځـان ته ګـوري
نو تـاويل به برخلاف وي دَ سرتـوري

داسې خوب کۀ وي هلک چـرته ليدلے
بشـارت به يې دَ ورور وي، نـازولے





پښتو.نيټ
PUKHTO.NET

ائینه کښې کۀ جینۍ وَ ځانته ګـــوري
نو تعبیر دَ استفسار یې بیا پۀ خور وي

انعکاس چې پۀ شیشه کښې یې دَ ذات وي
دَ قیدي دَ خوب تعبیـــر بیا دَ نجات وي

ائینـــــه به یـــې سبب بیا دَ نـزول شي ①
دَ شاهانـو تعبیـر څۀ دے ؟ خو معزول شي

① نزول دلته د راکوزېدو او پرېوتو معنیٰ ورکوي ځکه عرب وایي نُزُولُ الطَائِـرة یعنې الوتکه راکوزېـږي -

# مننه

* دَ هغه سپېڅلو خوبـــونـــو ، چې زهٔ یې دې منظـــوم تعبیرونـــو ته هڅولے او پـارولے یم.
* دَ عاطرؔ یوسفزي صېب چې ما اوس هم لکه دَ ماشوموالي دَ گوتې نه نیـولې گرځوي.
* دَ پروفېسر ډاکټر علي خېل دریاؔب صېب چې تفصیلي لیکنې ئې ډېـر شُبهـات لرې کړل.
* دَ شیـــخ امیر حسین بـاؔچا صېب ، مولانا اصغر صېب او قـــاري عابد الله صېب چې زما ئې حوصلې لوړې کړې دي.
* دَ فېرؔوز آفریدي صېب چې خپله قیمتي رائې ئې دَ دې کتاب پانړو ته په اخلاص مېړ وسپارله.
* دَ پروفېسر ډاکټر اقبال نسیؔم خټک صېب چې لیک ئې زما دَ پاره د سند درجه لري.
* د همېشه پُښتو ادبي ټولنې د غړو چې زما دَ ادبي لارې مله دي.
* دَ رفعت خټک صېب ، ایازؔ الله ترکزي صېب ، عمـــران داؤد صېب او ضیاء آرټسټ چې په ټائټـل ئې خواري وکړه.
* دَ خپلو ماماگانـــو فضل علیم اجنبیؔ صېب ، عبد الحلیؔم صېب نورالامیؔن صېب او صلاح الدین صېب چې زهٔ ئې منت بار یم.
* د هغه ټـولو ملگرو خصوصاً دَ لاغرؔ خټک صېب ، ډاکټر بـاؔقي دُرانـــي صېب ،طیبؔ خان صېب، گل خان یوسفزي صېب ، سلیم ارمانؔ صېب ، رفیقؔ یوسفزي صېب ، انجینئیر فاروؔق خان صېب، شیرین یارؔ یوسفزي صېب ،گـوهر ننگیـــال صېب ، ځارؔ یوسفزي صېب او گـــوهر علي گوؔهر صېب چې وخت په وخت داد راکوي.

خیام یوسفزے

# سرچینې

## القران الکریم

تفاسیر القران الکریم

## احادیث الرسول ص

صحیح البخاري/ صحیح مسلم

سنن الترمذي/ سنن النسائي/ سنن ابي داؤد/ سنن ابن ماجه

## مشکاة المصابیح

محمد بن عبد الله الخطیب العمري أبو عبد الله ولي الدین التبریزي رح

متوفي ...... ۷٤۱ هـ

محقق ..... محمد ناصر الدین الالباني

ناشر ...... المکتب الاسلامي بیروت

کال .... ۱۹۸۵م

## طبِ نبوي ص

ابن القیم الجوزیة رح

۶۹۱ ...... ۷۵۱هـ

## ماډرن طب

متفرقات

## منتَخَبُ الکلام في تفسیر الاحلام

امام ابو بکر محمد بن سیرین البصري رح

تهذیب ... عبد المنیر مهنّا

ناشر .... دار الفکر البناني بیروت

کال .... ۱۹۹۰م



پښتو.نیټ
PUKHTO.NET

### تفسير الاحلام

امام ابو بكر محمد بن سيرين البصري رح
٣٣هـ/ ٦٥٣م ...... ١١٠هـ/ ٧٢٩م
ناشر .... مكتبة حسن العصرية بيروت
كال .... ٢٠١٠ م

### تفسير الاحلام وتعطيره قديمه وحديثه

امام ابن سيرين رح او امام شيخ عبد الغني النابلسي رح
تحقيق .... سيد ابراهيم رح
ناشر .... دار الحديث القاهرة مصر
كال ....١٤٢٣هـ/ ٢٠٠٣م



### الاشارات في علم العبارات

غرس الدين خليل بن شاهين الظاهري رح
متوفي .... ٨٧٣ هـ
ناشر .... دار الكتب العلمية بيروت
كال .... ١٩٩٣م

### تعطير الانام في تعبير المنام

شيخ عبد الغني ابن اسماعيل النابلسي رح
متوفي .... ١١٤٣ هـ
ناشر .... دار القلم العربي سوريا
كال .... ٢٠٠٤ م

### قصص الانبياء

امام حافظ عماد الدين ابن كثير رح
ناشر .... مكتبة بيت السلام رياض
كال .... ١٤٢٦هـ/ ٢٠٠٥م



پښتو.نېټ
PUKHTO.NET

زهٔ به ډېر ملکــونه فتح کړم دَ شعر
ما زين کړے دَ الهام دَ رنګ سمند دے

په معنیٰ کښې دَ "خوشحال" دَ انغري دے
په ښکلا کښې دَ "شيراز" او دَ "خجند" دے

خيام يوسفزے





پښتو.نيټ
PUKHTO.NET

# ادبي وارث

چې زما په بورجل يې سترګې وغړولې، نو ما ورته د الياس حميد نامه خوښه کړله..... بيا د خپل پوستو شو.... په انګرۍ کې رالوی شو..... عمر چې د خپل واک شو..... نو ځانله يې د خيام يوسفزي نامه غوره کړه، خيام د نشيرازه فکر، رسا ذهن، تاند تخيل خښتن دی، تحت شعر ليکي، د زړه يې ليکي او نثر يې ليکي... په ډېر لږ وخت کښې يې ځان په ډېرو خلکو د خپلو ارښتنا که ليکونو په زور معروف کړو، زه نيک مرغه يم چې خيام نه يواځې زما ادبي وارث دی بلکې د پښتو ادب نيت په ذريعه د پښتنو ليکوالو د ادبي تنکي خوندي کولو د يو نا تمام سلسلې روح روان هم دی

عاطر يوسفزی

سرپرست همېشه پښتو ادبي ټولنه، امان درې، ملاکنډ ايجنسي

همېشه

همېشه پښتو ادبي ټولنه. رجسټرډ

امان دره، ملاکنډ